




# د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند
# اساسنامه

**د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند دوهمه سراسری کنګره**
**د ۱۳۹۳ د تلی ۱۳ (د ۲۰۱۴ د اکتوبر ۵)**

# د افغانستان کمونیست (مائویست) گوند اساسنامه

د افغانستان کمونیست (مائویست) گوند اساسنامه دوي څپرکي لری.
لمړۍ څپرکۍ د افغانستان کمونیست(مائویست) گوند عمومی تګلاره په برکی نیسی او دوهم څپرکۍ د افغانستان کمونیست (مائویست) گوند تشکیلاتی آئین نامه په برکی نیسی.
د اساسنامی لمړۍ څپرکۍ د افغانستان کمونیست (مائویست) گوند عمومی تګلاره شپږګونی ستني لرۍ چی د کمونیست گوند د بنسټیزو ټکو لرونکی دی:

**د گوند طبقاتی ځرنګوالی (خصلت)،**

**د گوند لار ښود ایډیولوژی،**

**پرولتاریایی انټرناسیونالیزم،**

**د گوند سیاسی تګلاره،**

**د نوی ډیموکراتیک انقلاب د تر ټولو غوره موخي**

او

**د گوند مبارزاتی ستراتیژی؛**

بیانوی (څرګندوي).
د اساسنامی دوهم څپرکۍ (د افغانستان کمونیست(مائویست) گوند آئین نامه) د گوند د تشکیلاتی آئین نامه شپږګونی ستني یعنی:

**د گوند تشکیلاتی اصول،**

**د گوند تشکیلاتی جوړښت،**

**مرکزی نشراتی ارګان، مرکزی داخلی خپرونه، د گوند سیمه ایزی داخلی خپرونی او نور ټول خپروني،**

**د گوند جنډه (بیرغ)،**

**په گوند کی د غړیتوب اړوند مسایل**

او

**په گوند کی انضباطی کړنلاره؛**

په ۴۷ مادو کی ورپیژنی او څرګندوي.

# لــمــړی څــپــرکــی
# عمومی تګلاره
## 1 – د ګوند طبقاتی خصلت:
د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند په افغانستان کی د پرولیتاریاو سیاسی ګوند او د پرولتاریاو مخکښ ګوند دی.
د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند د پرولتری (مارکسیستي- لنینیستي- مائوئیستي) ایډیولوژی لرونکی دی. د ګوند شتون د افغانستان په انقلابی خوځښت کی د پرولتری ایډیولوژی د په کار اچولو نتیجه ده. ګوند، د پرولتاریایی سیاسی برنامی او پرولتاریایی مبارزاتی ستراتیژی لرونکی او په افغانستان کی د پرولتاریا د اساسی ګټو استاځی او څرګندونکی دی. ګوند، ژمن او مصمم دی چه په افغانستان کی د پرولتاریا د ځانګړیتوبونو او کیفیتونو څرګندونکی وي. ګوند، د افغانستان د پرولتاریاوو او نورو زیارکښانو لیکي د ځان اصلی طبقاتی اډه بولی او دنده لری چه تل د دوی په منځ کی د خپلو اړیکو د ټینګولو او خپرولو لپاره زیار وباسی.
دا خصوصیات او اړخ نیول د افغانستان کمونیست (مائویست )ګوند د پرولتاریایی توب پیژندوینه ده.
د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند د تیوریک له پلوه د افغانستان د پرولتاریاوو او ولسونو په لمړی کرښه کی ځای لری، او ژمنه ده او پریکړه یی کړیده چه د تشکیلاتی او عملی مبارزاتی فعالیتونو له پلوه هم په ټینګه همداسی موقعیت ولری. ګوند په اصل کی باید د پرولتاریاوو د لیکو د مخکښانو څخه جوړ وی او په عین حال کی کولای سی د خلګو د نورو قشرونو او طبقاتو انقلابی مخکښان هم چه خپلی جهان بینۍ ته په آګاهانه ډول تغییر ورکړي او د پرولتری ایډیولوژی په منلو او په پرولتری مبارزاتی فعالیتونو کی په عملی ګډون سره، خپل مخکنی طبقاتی موقعیتونه د ایډیولوژیک او سیاسی اړیکی له پلوه وشلوی او د پرولتاریا سره یو ځای شی، په ګوند کی ځای ورکړي. د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند د نړیوال کمونیستی خوځښت نه بیلیدونکی برخه ده، له هغه نه تومنه اخیستی او هغه ته خدمت کوی.
د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند دا خصوصیات او اړخ نیول د افغانستان د پرولتاریاوو د مخکښ ګوند په توګه پیژندوینه ده.
د ګوند پرولتری خصلت داسی څه نه دی چی په یوځل او د تل لپاره تثبیت شی. د ګوند پرولتریزه کیدل یو دوامداره جریان دی چه د ټولنی په متن او د ننه کی د انقلابی مبارزو د پرمخ بیولو لپاره په پرله پسی ډول ادامه ولری. د ګوند په د ننه کی هم د دوه خطونو تر منځ مبارزه چی له یوی خوا د ګوند د پرولتری خصلت د ساتنی او تکامل او له بلی خوا د ماهیت د بنی بدلول او له منځه وړل دي، په پرله پسی توګه را څرګندیږي. دغه مبارزی، د ګوند په د ننه کی د ټولنی د طبقاتی مبارزو انعکاس دی چه په ډېره نه کیدونکی ډول په لوړو او ژورو سره را څرګندیږي. د رویزیونیستی او اپورتونیستی خطونو په وړاندی چه د ګوند په د ننه کی سر را اوچتوي د دوامداری مبارزي پر مخ بیول او سرته رسول او د

ګوند دوامداره انقلابی کول، د ګوند د پرولتاریایی خصلت د ساتلو او پیاوړی کیدو او د دی خصلت په دوامداره تکامل کی مهم رول لوبوي.
د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند د هغه مائوئیستی خط میراث لرونکی او تکامل ورکونکی دی چی د لمریز ځلویښتمی لسیزی په نیمایی کی د افغانستان مارکسیستی- لنینیستی- مائوئیستی) خوځښت بنسټ ایښودنکی شو. دی جنبش د مائوتسه‌دون تر رهبری لاندی د چین د کمونیست ګوند رویزیونیستی ضد او سوسیال امپریالیستی ضد مواضعو ځخه په اغیزمن کیدو او الهام اخیستو سره، د شوروی د رویزیونیزم او سوسیال امپریالیزم سره د بیلوالی کرښه ترسیم کړه او د امپریالیزم، سوسیال امپریالیزم او ارتجاع پر وړاندي یی د کارګرانو او روشنفکرانو د نوي ډیموکراتیکی پراخه مبارزی پر مخ یووړی.
د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند د سوسیال امپریالیستی ضد مقاومت جګړه کی د افغانستان د کین غورځنګ د ګډون د منفی او مثبتو تجربو د راټولولو پر بنسټ رامنځ ته شوی دی.
د سوسیال امپریالیستی ضد مقاومت جګړه کی د کین غورځنګ د ګډون یو مهم اړخ دا وو چه د دي غورځنګ بیلا بیلی برخي په عملی توګه په جګړه کی راشکیل شول او د شعله یانو دا رول مشخص او روښانه وو. په دي جګړه کی د کین غورځنګ د ګډون ستره کمزورتیا دا وه چه د خلکو د جګړی د مبارزاتی ستراتیژی د یوی برخی په توګه په مستقل ډول مخ ته یووړل نه سو. په هغه وخت کی، د کین غورځنګ اړوند سازمانونو او افرادو په پراخه کچه د ارتجاعی جهادی ګوندونو تر پوښښ لاندي راغلل او یا یی په اسلامی برآمد لاس پوری کړ. په بل عبارت سره د سوسیال امپریالیستی ضد مقاومت جګړی کی د کین غورځنګ ګډون درسته او اصولی وه، خو دا ګډون باید په خپلواکه توګه وای، پریو (مارکسیستی- لنینیستی- مائوئیستی) خط او مشی باندی یی تکیه درلودلای او د یو کمونیستی ګوند له خوا رهبری کیدلای. په دي جګړه کی د عمده تضاد ټاکل درسته او اصولی وه، ولی د غیر عمده دښمن په وړاندی اړینه مبارزه تر ډیره بریده له پامه غورځول سوی وه. د دي اساسی مبارزی د پر مخ بیولو ځخه سترګی پټول او د عمده تضاد د مطلقولو هڅه، د کین غورځنګ د منسوبینو تر منځ طبقاتی تسلیم طلبی ته لمن ووهل.
دا ګوند د نړیوال کمونیستی خوځښت ځخه په اغیزمن کیدو او الهام اخیستو سره او په ځانګړي توګه د انقلابی انټرناسیونالیستی خوځښت ځخه، او د چین د ستر پرولتاریایی فرهنګی انقلاب د اصولی او روښانه تجاربو په جذبولوکی او د چینی او خوجه‌یی رویزیونیزم په وړاندی غوځ موضعګیري او مبارزی سره اساس کښیښودل سو. هغه بنسټ ایښودل چه د لمریز پنځوسمی لسیزی په اوږدو او د لمریز شپیتمی لسیزی لمړی نیمایی کی د افغانستان پر کین غورځنګ باندی د ټولو مسلطو انحرافاتو او وروستنی انحرافاتو سره د روښانه مرزبندی او ټینګه مبارزه متضمن وو.
د دی ګوند تکامل د نړیوال کمونیستی خوځښت په لیکوکی حضور او په نړیوال پرولتاریایی مبارزی کی د برخی اخیستو سره، په ځانګړي توګه د انټرناسیونالیستی انقلابی خوځښت د فعالیت په زمانه کی د هغه په مبارزوکی برخه اخیستل او د "جاا" د فعالیتونو بیا راژوندي کولو لپاره مبارزی، د دي خوځښت ترغیرفعال کیدو وروسته، او د

يو نوي نړيوال (م ل م) تشکيلات جوړولو سره تړل سوی ده.
د افغانستان کمونيست (مائويست) ګوند د امپرياليزم، رويزيونيزم او ارتجاع په وړاندي د کلونو مبارزو محصول دی.
د افغانستان د کمونيست (مائويست) ګوند بيرغ د هيواد د ټولو مائوئيستانو د يوموټي کيدلو بيرغ دی. دوی يواځی تردي بيرغ لاندي کولای سی خپل نوی ډيموکراتيک او کمونيستی مبارزاتی دندي او مسئوليتونه او په ځانګړي توګه خپل اوسنی دندي او مسئوليتونه د امپرياليست اشغالګرو او ملي خاينينو په وړاندی په ملي ولسي او انقلابي مقاومت کی په اصولي او ارزښتناکه توګه تر سره کړي.

## 2 ـ د ګوند لارښود ايډيولوژی:

د افغانستان کمونيست (مائوئيست) کوند مارکسيزم- لنينيزم- مائوئيزم دخپل انديښنی او عمل لارښود آيديولوژی په توګه منلې او په کاريی اچوی.
مارکسيزم- لنينيزم- مائوئيزم، د نړيوال پرولتاريا وو ايډيولوژی ده او جهان شموله خصلت لری او له همدی کبله د هر هيواد په ځانګړي شرايطو کي، او له هغی جملی څخه په افغانستان کی، د تطبيق وړ دی.
د نړيوال پرولتاريايی ايډيولوژی د خپل پيدايښت څخه تر اوسه پوری دری تکاملی پړاوونه يی تيری کړي دی:
د پيدايښت او انسجام لومړی پړاو يا مارکسيزم،
د تکامل دوهم پړاو يا مارکسيزم- لنينيزم،
د تکامل دريم پړاو يا مارکسيزم- لنينيزم- مائويزم.
دا د تکامل پړاوونه يو د بل سره تړلي دي او هر دری برخي فلسفه، سياسی اقتصاد او سياسی تيوری ګانی په بر کی نيسي.

### ۱ـ مارکسيزم:

د کارګری طبقی پيدايښت د مارکسيزم د پيدايښت عينی پايه يی برابره کړی ده. مارکسيزم لمړی په ۱۹ پيړی کی د اروپا د کارګرانو د مبارزو په متن کی منځ ته راغلی او د نړيوال پرولتاريايی مبارزو په نژدی تړاو سره او د هغه په چوپړکی روزل شوی دی.

### د مارکسيزم دری برخی:

### ۱ -ـ د مارکسيزم فلسفه:

هر اړخيز فلسفی سيستم يعنی ماټرياليزم ديالکتيک او تاريخی ماټرياليزم يا د تاريخ او بشری ټولنی او د هغه د تکامل په برخه کی د ماټرياليزم ديالکتيک په کار اچول، د مارکسيزم قلسفه ده.

### 2- د مارکسيزم سياسی اقتصاد:

مارکسيستی سياسی اقتصاد، د پانګه والی اقتصاد هر اړخيز او بنسټيز ګوتنيونه ده چه د بورژوازی په وسيله د پرولتاريا د استثمار راز، د پانګی د راغونډولو، انارشي او د پانګه والی ذاتی تضادونو څخه پرده پورته کوي.

## 3- د مارکسیزم سیاسی تیوری:
د سیاسی قدرت تر لاسه کول د قهری انقلاب له لاری تیوری او د پرولتاریا د دیکتاتوری تیوری، د مارکسیزم د سیاسی تیوری بنسټ جوړوی. د پاریس د کمون د پندونو او زده کړو جمعبندي او د کارگری خوځښت په د ننه کی د اپورتونیستانو پر ضد مبارزه د نوموړی تیوری په تدوین کی د پام وړ اهمیت درلود.
په لومړی پړاو کی د پرولتاریایی ایدیولوژی بنسټ ایښودل او وده ورکول د مارکس د نوم سره تړلی دی او مارکسزم ونومول شو.
د دی لپاره مبارزه چی نړیوال کمونیستی خوځښت مارکسیزم په رسمیت وپیژنی د مارکس د مړینی څخه وروسته د انگلس په واسطه رهبری سوه.
## ۲- لنینیزم:
د پانگه والی تکا مل و انحصاری پانگه والی ته او د امپریالیزم د عصر پیدایښت، د لنینیزم د رامنځ ته کیدو او د مارکسیزم تکامل مارکسیزم- لنینیزم ته، عینی بنسټ منځ ته راووړ. لنینیزم په روسیه کی د پرولتاریایی انقلابی غورځنگ د رهبری په بهیر کی او د نړیوال کمونیستی خوځښت کی د ننه د رویزیونیزم په وړاندي مبارزه او په ځانگړی توگه د اکتوبر د انقلاب د رهبری په جریان کی رامنځ ته سو.
## لنینیستيي تکاملونه:
### ۱ -- په فلسفه کی:
د مارکسیستی فلسفی تکامل د امپریوکریتیسیستانو پر ضد په فلسفی مبارزه کی. امپریوکریتیسیستان هسه کول چه ایډیالیزم او ماتریالیزم یو بل سره پخلا کړی.
د مارکسیستی ډیالکتیک تکامل د تضاد قانون د ډیالکتیک د جوهر په توگه مشخص کول.
### ۲ -- په سیاسی اقتصاد کی:
د امپریالیزم د تیوری تدوین او د امپریالیستی پانگوالی ځانگړیتوبونو توضیح د طفیلی، خوسا، او د مړینی په حالت کی او د پانگه والی د وروستنی مرحلی په توگه.
### 3– په سیاسی تیوری کی:
د عصر مشخص کول د امپرالیزم او پرولتاریایی انقلابونو د عصر په توگه.
د نوي طراز سیاسی گوند یا (د پرولتاریایی مخکښ گوند) یا د کمونیست گوند د تیوری تدوین او د داسی گوند بنسټ ایښودل او جوړول چی د سیاسی قدرت د لاس ته راوړلو لپاره د پرولتاریاوو او انقلابی ولسونو رهبری وکړی.
د پرولتاریایی انقلاب د تیوری او پراتیک تکامل د اکتوبر د انقلاب د رهبری په جریان کی او په شوروي کی پرولتاریایی دیکتاتوری برقرارول.
په ټوله نړۍ کی په ډیرو زیاتو اندازو د کمونیستی غورځنگ خپرول.
د پرولتاریایی انقلابی مبارزو او په نړۍ کی د ترستم لاندي خلگو مبارزو تر منځ د یووالی خوندی کول.
د دویم انترناسیونال او رویزیونیزم په وړاندی مبارزه کول
او
د کمونیستی انترناسیونال(کمینترن) جوړول.

د پرولتاریا ایدیولوژی د تکامل دوهم پړاو د لنین د نوم سره تړاو لری او لنینـیزم ونـومـول سو. د لنین تر مړینی وروسته، د دی لپاره چی نړیوال کمونیستی خوځښت، مارکسیزم- لنینیزم د پرولتاریایی ایډیولوژی د دوهمی تکاملی پړاو په توګه په رسمیت وپیژنی، د ستالین لـه خوا رهبری شو.

## ۳: مائوئیزم:

په شوروی کی د بریالی پرولتاریایی انقلاب نسکوریدل او د پانګه والی نظام بیرته ژوندی کیدل په امپریالستی پانګه والی نظام کی د نوو بدلونونو او تحولاتو سره یو ځای، د مائوئیزم عینی پایه او د مارکسیزم- لنینیزم څخه و مارکسیزم- لنینیزم – مائوئیزم ته تکامل مائوئیزم ئی منځ ته راووړ. مائوئیزم د چین د انقلاب د اوږد محالـه رهبری، پـه ځانګړي توګه د چین ستر پرولتاریایی کلتوري انقلاب او د مدرن رویزیونیزم پـه وړاندي نړیوال مبارزی رهبری په موده کی رامنځ ته شو.

### مائوئیستی تکاملونـه:

#### ۱ – په فلسفه کی:

د تضاد د قانون مطرح کول په طبعیت، ټولنـه او انسانی تفکر باندي د حاکم اساسی قانون په توګه.

د عمده تضاد د مفهوم مطرح کول او د هغه بیلوالی د اساسی تضاد څخه.

په ماهرانـه توګه د فلسفی کارول په سیاست او سیاسی مبارزو کی.

د پیژندنی د تیوری تکامل او د پراکتیک څخه تیوری ته او وروسته د تیوری څخه پراتیک ته د جهش د ژور ارزونی په رڼا کی او د پراتیک پر عمده والی ټینګار.

د خلګو د پرګنو منځ ته د فلسفی وړل.

د زیربنا او روبنا تر منځ د اړیکی ډیالکتیکی تحلیل او د دوی تر منځ د یو اړخیزه اړیکی متافیزیکی برداشت نفی او د مؤلده قواو د ودي رویزیونیستی تیوری ردول.

#### ۲ –  په سیاسی اقتصاد کی:

د سوسیالیزم په جوړولو کی د شوروی د کمزورتیاوو اقتصادی سیاست باندی نیوکه او په متکاملتره توګه د سوسیالیزم د جوړښت د اقتصادی سیاست د تدوین لـه لاری د سوسیالیستی سیاسی اقتصاد تکامل.

د رویزیونیستی تیوری "د مولده قواو وده" په وړاندي مبارزه کی، د انقلاب تقدم د تولید د ډیروالی په پرتلـه او هغه په لنډ دول بیانول په داسی شعارونو لکه "انقلاب درک کړی، تولید ډیر کړی"، او "سور والی او متخصص والی" (د انقلابی توب تقدم د تخصص لرلو په پرتلـه) پربنسټ د انقلاب او اقتصادی پراختیا تر منځ ډیالکتیکی اړیکی تعیینول.

د نوي ډیموکراسی اقتصادي سیاست تدوین او د بیوروکراتیک پانګه والی د مفهوم طرح د کمپرادوری پانګه والی د یو ډول په توګه چی د امپریالیزم لـه خوا تر ولـکی لاندي هیوادونو کی منځ ته راځی.

#### ۳ – په سیاسی تیوری ګانوکی:

د نوی ډیموکراتیک انقلاب د تیوری تدوین د امپـریـالـیـزم تـر ولـکی لانـدی هیـوادونـو کی د پرولتاریا تر رهبری لاندی انقلاب په توګه د انقلاب په لومړی پړاوکی او سوسیـالیـستـی

انقلاب ته زمینه برابرول او هغه ته تیریدل.
د پرولتاریایی نظامی پوهی هر اړخیز تکامل یا د خلکو د جګړی د تیوری تدوین.
د امپریالیزم تر ولکی لاندي هیوادونو د طبیعت او انقلابی شرایطو پیژندنه د هغه هیوادونو په توګه چه په هغوی کی په پرله پسی توګه د خلکو د جګړی پارولو او پرمخ بیولو شرایط په عام ډول شتون لری.
د پرګنو د تاریخ جوړونکی رول د درک ژور تکامل یا د ولسي مشي تدوین.
د پرولتاریایی مخکښ ګوند د انقلابی خصلت د ساتنی او تکامل د څرنګوالی څخه د لا متکامل پوهی وړاندي کول، د ګوند په دننه کی د دوو خطونو د مبارزی له لاری د رویزیونیزم او اپورتونیزم بیلا بیل ډولونو پر ضد پرمخ بیول.
د مدرن رویزیونیزم پر ضد مبارزه.
او تر ټولو اوچت:
د ستر کلتوری پرولتاریایی انقلاب په جریان کی د پرولتاریا تر دیکتاتوری لاندي د انقلاب د ادامی د تیوری تدوین او د بورژوازی د فرمان ورکولو مرکز، یعنی د ګوند په دننه کی د رویزیونیستی فرمان ورکولو مرکز، نسکورول.
مائوئیزم، د مارکسیزم– لنینیزم هر اړخیز تکامل په فلسفه، سیاسی اقتصاد او سیاسی تیوریګانی په بر کی نیسی. په اوسنی شرایطو کی د مائویزم نه پرته مارکسیزم– لنیدیزم شتون نلری او د مائویزم نفی کول په یقینی ډول د مارکسیزم – لنینیزم نفی کول دی.
په نړیوال کمونیستی غورځنګ کی د مارکسیزم – لنینیزم – مائوئیزم په رسمیت پیژندلو لپاره مبارزه، د پرولتاریایی ایدیولوژی د تکامل د دریم پړاو په توګه، اوږده لاره یی وهلي ده. دا مبارزه د مدرن رویزیونیزم په وړاندي د جګړي په بهیر کی نړیوال خصلت وموند او د چین د ستر کلتوری پرولتاریایی انقلاب په بهیر کی او په ځانګړي توګه د چین د کمونیست ګوند په نهمه کنګره کی پای ته ورسیده. ولی په کلونو کلونو د "مارکسیزم– لنینیزم– مائوتسه دون اندیښنه" عبارت په نړیوال کمونستی غورځنګ کی استعمالیده.
د مائوتسه دون اندیښنی پر ځای د مائوئیزم عبارت ته نړیوال رسمیت ورکول، هغه خدمت دی چی د انترناسیونالستی انقلابی خوځښت له خوا سرته رسیدلی دی.
مارکسیزم- لنینیزم- مائوئیزم د عمل او اندیښنی لارښود دی چی په انقلابی عملی مبارزه کی تری کار اخستل کیږی. دا د تیوری څخه و پراکتیک ته د جهش په معنا، د تیوری تلفیق د پراکتیک سره او د مارکسیزم- لنینیزم- مائوئیزم د عامو حقایقو تطبیق د افغانستان په پرولتاریایی انقلابی مبارزو ځانګړي شرایطو په معنا ده.
مارکسیزم– لنینیزم– مائویزم یو جامد شریعت نه دی، بلکه دا یوه د تکامل وړ ایدیولوژی ده او د هغه د تکامل بهیر به په راتلونکی کی هم دوام ومومی.

## ۳ –- پرولتاریایی انترناسیونالیزم:

پرولتاریایی انترناسیونالیزم د افغانستان د کمونیست (مائویست) ګوند یو اساسی اصل دی.
دا ګوند په افغانستان کی د نړیوال پرولتاریایی اردو جنګیالی پوځ دی چی په افغانستان کی انقلابی مبارزی د نړیوال پرولتاریا په بین المللی انقلابی مبارزو کی دبرخی اخیستو په توګه پر مخ وړي. ګوند په افغانستان کی انقلابی مبارزی د نړیوال انقلاب په چوپړ کی

خپوروي او د افغانستان پرولتاريا او خلکو ته د پرولتاريايي انترناسيوناليزم د اساساتو پربنسټ روزنه ورکوي، تر څو راتلونکي خپلواک، آزاده او انقلابي ټولنه وکولی سی د نړيوال انقلاب لپاره د يو ډاډ من اډي په څير په چوپړ کی وی.
د افغانستان کمونيست (مائويست) گوند په بين المللی لحاظ د انقلابی انترناسيوناليستی غورځنګ په مبارزاتی ډګر کی زيږيدلی دی او وده يی کړی ده. گوند، د نړيوال کمونيستی غورځنګ په مبارزوکی ګډون خپل يو سر نه غړونکی دنده او مسئوليت ګڼي، د نړۍ د نورو مارکسيست- لنينست- مائوئيست گوندونو او سازمانونو سره په اتحاد کی، په نړيواله کچه په ايديولوژيک- سياسی مبارزو او عامو او خاصو مسايلو باندی، په ځانګړي ډول د اواکيانی پسا م ل م رويزيونيزم او پراچندا- باترای رويزيونيزم په وړاندی مبارزاتو کی د «جاا» د اصلی غير فعال کيدو ايديولوژيک عواملو په توګه ونډه اخلی، د نړيوال کمونيستی غورځنګ د عمومی سياسی مشی د تدوين په لار کی په ټينګه مبارزه کوی او د انترناسيوناليستی انقلابی غورځنګ د احيا د مبارزی له لاری يا د نوي نړيوال مارکسيستی- لنينيستی- مائوئيستی تشکيلاتو د جوړښت او د نوي کمونيستی انترناسيونال د تشکيل لپاره د فعال مبارزو د پرمخ بيولو دوامداره هڅی کوي.
د افغانستان کمونيست (مائويست) گوند د نورو هيوادونو د مارکسيست- لنينيست- مائويست سازمانونو او گوندونو سره نژدی او دوه اړخيزی اړيکی ساتی او هڅه کوی چه د دی اړيکو کچه د مارکسيستی- لنينيستی- مائوئيستی اصولی معيارونو سره سم مخ په ډيرودونکی توګه ارتقا او پراختيا ومومي.
د افغانستان کمونيست (مائوئيست) گوند د نړۍ د خلکو امپرياليستی ضد او ارتجاعی ضد مبارزو او مقاومت څخه ملاتړ کوی او اوږه ورسره ور کوی.
گوند زيار باسی چه د نورو هيوادونو د غير مارکسيست- لنينيست- مائوئيست مبارزو قواو سره چی د ارتجاع او امپرياليزم په ضد مبارزه کوی متقابل اصولی نږدی او ګټور اړيکی جوړ کړی.
په څو ګونيز مليتی افغانستان کی چی د پښتون د مليت حاکمه طبقاتو شؤونيزم حاکم دی او پر غيرپښتون مليتونو باندی ملی ستم اعمال کيږي، د دی ستم پر ضد مبارزه کول د نورو مليتونو د برخه ليک د ټاکلو حق د بيلوالی تر سرحده په رسميت پيژندل، د افغانستان د کمونيست (مائوئيست) گوند يو د مهمو انترناسيوناليستی اصولو څخه شميرل کيږي.

## ۴-- د ګوند سياسی تګلاره:

د افغانستان د کمونيست (مائوئيست) گوند حد اقل او حد اکثر سياسی تګلاره د نوی ډيموکراتيک انقلاب سرته رسول، و سوسيالستی انقلاب ته چټک ګذار، د سوسياليزم جوړښت، د متعددو کلتوری انقلابونو له لاری د پرولتاريا تر ديکتاتوری لاندی د انقلاب ادامه او د نړيوال بی طبقی کمونيستی ټولنی په لور پرمختګ د نړيوال پرولتاريايی انقلاب په متن کي دی.
افغانستان تقريباً د تير يوه پيړۍ په لړکی يوه نيمه فيوډالی او د امپرياليزم تر لاس لاندی هيواد ؤو. ددي مودی په لړ کی د امپرياليزم سلطه پر هيواد باندی کله مستعمراتی حالت او کله نيمه مستعمراتی حالت درلود. د خلکو د پرګنو ـ د توليد کونکو قواوو د ټاکليز برخی په

توګه ـ او مستعمراتی ـ نیمه فیوډالی او یا نیمه فیوډالی ـ نیمه مستعمراتی مناسبات تر منځ تضاد، د افغانستان د ټولنی اساسی تضاد جوړوي. په مستعمراتی حالت کی، د امپریالیستی یرغلګرو او اشغالګرو ځواکونو او د هغو د لاس پوځو په وړاندي مبارزه او د نیمه مستعمراتی په حالت کی د داخلی حاکم ارتجاع په وړاندی مبارزه د انقلاب عمده دندو څخه شمیرل کیږي.
په اوسنی شرایطوکی، د امپریالیستی اشغالګرو او داخلی پوشالی ځواکونو جګړییز تاکتیکی موقعیتونو د نسبي ځای په ځای کیدو سره سره، د لاسپوځی رژیم و پوشالی ځواکونو ته د روځنی جګړییز مسؤلیتونو سپارل او د اشغالګرو ځواکونو په حقوقی وضعیت کی ظاهری بدلونونه، او په همدی ډول هیواد د امریکایی او د هغه د متحدینو د برید او یرغلیز په وینو لړلی منګولو تر اشغال لاندي دی، د امپریالیستی اشغالګرو او د دوی د لاسپوځي رژیم په وړاندي مقاومت د انقلاب اوسنی عمده دنده ګڼل کیږي. امپریالیزم او د فیوډال او کمپرادوری بورژوازی طبقو سره یو ځای مبنتي د مستعمراتی ـ نیمه فیوډالی یا نیمه فیوډالی ـ نیمه مستعمراتی مناسباتو اصلی مدافعیین دي. د امپریالستی ولکی له منځه وړل او د دي ارتجاعی طبقونسکورول، د انقلاب د اصلی دندو څخه شمیرل کیږي.
کارګران، بزګران، وړه بورژوازي او ملی بورژوازي د انقلاب ستر خوځنده ځواکونه دي. کارګره طبقه د انقلاب لاربنود او بزګران د انقلاب عمده ځواک جوړوی. بیوزلی او لږ څه لرونکی بزګران، په انقلاب کی د کارګری طبقی کلک متحدین دي او وړه بوژوازی او د هغه لاندینی قشر یی نږدی متحد دی. د وړی بورژوازی لوړ قشر او د څه لرونکی بزګران په انقلاب کی د کارګری طبقی بی ثباته متحدین ګڼل کیږي. متوسطه بورژوازی یا ملی بورژوازی کمزوره، بی ثباته او بدلیدونکۍ ځواک دی، سره له دي د هغه تضادونو پر بنسټ چی د امپریالیستانو، فیوډالانو او او کمپرادور بورژواګانو سره یی لری، د انقلاب په لیکه کی ولاړ دي.
د پښتون ملیت د حاکمه طبقو د شوونیزم او ستم لاندی ملیتونو تر منځ تضاد او هم د نارینه و شوونیزم او ښځو تر منځ تضاد، په افغانستان کی دوه مهم ټولنیز تضادونه دي. دا تضادونه چه د ټاکلی طبقاتی اړخونو د کربنو څخه تیریږی او ځانګړي ټولنیزی لیکو را منځ ته کیدل جوړوی د طبقاتی تضادونو او امپریالیستی ستم سره په تړاو کی دي او په عین حال کی د خپلو ځانګړو قانونمندیو او خوځښتونو لرونکی دي.
د تر ستم لاندی ملیتونو مبارزه د حاکم ملیت د شوونیزم څخه د ملی آزادی لاس ته راوړل او د ښځو مبارزه د نارینه و د شوونیزم څخه د خلاصون او ازادی او برابری لاسته راوړل، د انقلاب د خوځنده مهمو ځواکونو څخه شمیرل کیږي. د حاکم ملیت د شوونیزم څخه د ستم لاندی ملیتونو ملی آزادی او د ښځو خلاصون د نارینه و د شوونیزم څخه او د ښځو آزادی او برابری لاس ته راوړل یواځی او یواځی د پرولتاریایی انقلاب په رڼا کی ممکن او لاس ته را ځي.
د کډوالو ستونځه چه د کال ۱۳۵۷ د ثور د ۷ کودتا او د سوسیال امپریالیستی یرغلګرو ځواکونو له خوا د افغانستان اشغال سره پیل شو، نه یواځی چه هماغسی لاینحله پاته ده، بلکه په نوو ډولونو سره غځیدلی هم ده. د څه د پاسه تیرو شلو کلونو تجربو دا ښوولي ده

**چه امریکایی امپریالیستی اشغالګر او د هغوی متحدین او لاسپوڅي رژیم او همدا رنګه نور مرتجعین نشی کولای چه دا ستونځه په بنسټیز ډول حل کړي. نوئ ډیموکراتیک انقلاب باید وکولای سي چه په ټول هیواد کي د ارضي انقلاب د بریالی عملی کیدو له لاری دي ستونځی**
**ته اساسی او بنسټیز لاره ومیندي.**
**په نړئ کی د ژوند د چاپیریال ککړوالی د امپریالیستی پانګه والی تر ولکی لاندي نظام او د خصوصی ګټو پر بنسټ د تولید پایلي، په یوه نړیواله ستونځه بدله شوي ده. ولی په افغانستان کی دا ستونځه د سوسیال امپریالیستی او امپریالیستی یرغلګریز او اشغالګریزو جګړو په پایلو کی، د پراخو ځنګلونو، کلیو او ښنو ځایونو ویجاړولو له لاری، د زهرجنو کیمیایی موادو او د اوم یورانیم د پراخ کارولو په نتیجه کی منځ ته راغلی دی. د ښارونو د بی له کومی برنامی او پلان ودي سربیره، په هیواد کی یی د ښارونو د ژوند چاپیریال سخت ککړ کړی دئ. په دي هکله هم تجربه ښودلی ده چه امپریالیست اشغالګر او د هغه لاسپوڅی، نه یواځی دا چی د هیواد د ژوند د چاپیریال د ککړوالی ستونځی بنسټیز حل توان نه لری، بلکی د دوی تر حاکمیت لاندي، نوموړی ستونځه روځ تر بلی پراخ لمن پیداکوي.**
**له هیواد نه د امپریالیستی اشغالګرو ځواکونو شړل او د لاسپوڅی رژیم نسکورول، د ژوند د چا پیریال د دی ککړوالی اصلی سرچینه له منځه وړي او راتلونکی انقلابی حاکمیت ته دا امکان ورکوي چه د پراخه ولسی انقلابی پرګنو پر چمتو کولو باندي تکیه کولو سره، په هیواد کی د ژوند د چاپیریال پاکوالی خوندي کوی. سربیره پرهغه یواځی ولسی انقلابی حاکمیت د دي توان لري چه په نړئ کی د ژوند د چاپیریال د پاکوالی نړیواله مبارزه په مخ بوځي.**
**مستعمره ـ نیمه فیوډالی یا نیمه مستعمره ـ نیمه فیوډالی افغانستان کی د ملی ډیموکراتیک انقلاب د دندو د سرته رسولو اړتیا، د سوسیالیستی انقلاب د سرته رسولو او پر مخ بیولو څخه وړاندي د نوي ډیموکراتیک دانقلاب پراو رامنځ ته کیږی او انقلاب په دوو پړاونو ویشی. دا دواړه پړاونه یعنی نوئ ډیموکراتیک انقلاب او سوسیالیستی انقلاب، د یو واحد انقلاب یو بل سره تړلي برخی دی چی د کارګری طبقی او کمونیستی ایډیولوژی(م ل م) په واسطه د کمونیست (مائوئیست ) ګوند له خوا رهبری کیږی.**
**د نوي ډیموکراتیک انقلاب تګلاره، د پرولتاریایی انقلاب حد اقله برنامه ده. دا انقلاب پر هیواد باندي د امپریالیزم ولکه له منځه وړي او نیمه فیوډالی مناسبات د ارضی انقلاب د پرمخ بیولو پر محور باندي او د محوری شعار (ځمکه د هغه چا ده چی کری یی) په تطبیق سره له بیخه باسی او د کمپرادوری بورژوازی ځښتنتوب له منځه وړی.**
**نوی ډیموکراتیک انقلاب، د هیواد او د هیواد د خلکو آزادی او خپلواکي د امپریالیزم د ولکی څخه او د کارګرانو، بزګرانو او خلکو پراخه پرګنو بنسټیز سیاسی، اقتصادي، کلتوری او ټولنیزحقوق خوندي کوی.**
**دا انقلاب، د حاکمه ملیت شوونیزم نسکوروي او د ملیتونو د برخه لیک د ټاکلو حق د بیلوالی د حق لرلو تر سرحده پوری په رسمیت پیژنی او د هیواد د بیلا بیلو ملیتونو د هر اړخیز مساوات خوندي کولو په لاره کی مبارزه کوی او له دی لاری د بیلا بیلو ملیتونو تر منځ پخپله خوښه او ربښتینی وحدت زمینه برابروي.**

دا انقلاب د امپریالیستی ولکي سره په تړاو کي د نارینه و فیوډالی لوړوالي شوونیزم له منځه وړی او د ژوند په ټولو برخو او ډګرونو کی د ښځو او نارینه وو تر منځ برابروالی د خوندي کولو لپاره ګام اخلی.
څرنګه چی په اوسنیو شرایطو کی، هیواد د امریکایی امپریالیست اشغالګرو تر خونړی منګولو او لاسپوڅی ګوډاګی رژیم حاکمیت لاندی دی، د انقلاب لومړنی مسؤلیت او عمده دنده، د اشغالګرو او لاسپوڅی رژیم د حاکمیت په وړاندي د مقاومت د جګړي سمبالول او پیلول دی.
که څه هم د انقلاب د نورو سترو او مهمو دندو خپل شتون، ستروالی او مهم والی ته دوام ورکوي، خو په اوسنی شرایطو کی ټول د اشغالګرو او لاسپوڅی رژیم په وړاندي د مقاومت تابع دي.
دا مبارزه چه د امپریالیستی اشغالګرو او لاسپوڅی رژیم په وړاندي ملی ولسی او انقلابی مقاومت کول دی، په هیواد کی د نوي ډیموکراتیک انقلاب سرته رسول اوسنی ځانګړي ډول مبارزاتی ستراتیژی ګڼل کیږي. د هیواد څخه د بهرنیو امپریالیستی اشغالګرو رټل او شړل اود دوی لاسپوڅی رژیم نسکورول، د نوی ډیموکراتیک انقلاب اوسنی عمده موخه جوړوي.
په پایله کی نوی ډیموکراتیک انقلاب، په هیواد کی د خلکو ډیموکراتیکه دیکتاتوری د پرولتاریا وو د یو ډول دیکتاتوری په توګه د امپریالیزم د ولکی او د ارتجاعی طبقاتو ړنګ شوی دیکتاتوری پرځای دروي. د خلکو ډیموکراتیکه دیکتاتوری د انقلابی طبقاتو او قشرونو ګډه دیکتاتوری د کارګری طبقی تر رهبری لاندي ده چی د کارګرانو او بزګرانو یو والی دهغه محور جوړوي .
نوی ډیموکراتیک انقلاب متضاد او بدلیدونکی خصلت لری. که څه هم دا انقلاب په عمده ډول یو بورژوا- ډیموکراتیک انقلاب دی، ولی د مهمو سوسیالیستی اړخونو لرونکی هم دی. دا انقلاب د پرولتاریا تر رهبری لاندی دی، لویه بورژوازی له منځه وړی، پر نړیوال امپریالیستی پانګوالی باندی ګزار کوی، د نړیوال پرولتاریایی انقلاب یوه برخه ګڼل کیږي او له همغه پیل څخه د سوسیالیستی استقامت لرونکی دی. د دغو عواملو مجموعه د سوسیالیستی انقلاب په لوری د دي انقلاب د وړاندي تګ زمینی برابروی.
د نوی ډیموکراتیک انقلاب سرتاسری بریالیتوب، د اوږدی لاری وهلو نه وروسته، چی د لوړو ژورو او کړلیچو ډک د خلکو جګړه، منجنله د ملی ولسی او انقلابی مقاومت جګړه په اوسنی بڼه کی، د سوسیالیستی انقلاب پیل شمیرل کیږي. انقلابی دولت د پرولتاریا تر رهبری لاندی د سیاست اقتصاد او کلتور اصلی اهرمونه په لاس کی اخلي او د سوسیالیستی سیاست، اقتصاد او کلتور بڼه ورکول په سرتا سری ډول پیلیږي.
د خلکو ډیموکراتیک دولت د پرولتاریا د دیکتاتوری یو شکل دئ. د دی دولت د سرتاسری حاکمیت خوندي کول د پرولتاریا د یو ډول سرتاسری حاکمیت د خوندی کولو او له سیاسی پلوه د سوسیالیستی انقلاب د پیل په معنا ده. د پرولتاریا د دیکتاتوری پر مخ زیاتیدونکی پراختیا او ټینګښت، له سیاسی پلوه د سوسیالیستی انقلاب د وړاندی تګ په معنا ده.
د دولتی اقتصاد برخه چی د سرتاسری انقلاب د بری څخه وروسته په ټینګه پراختیا مومی او د هیواد پر ټول اقتصاد باندی رهبری کونکی رول لوبوی، د انقلابی دولت تر رهبری

لاندی د سوسیالیستی اقتصاد په سکتور بدلیږی. راپارول شوی پراخه ولسی خوځښتونو سازماندهی او رهبری کیږی تر څو زیارکښان په عمده توګه بزګران، پخپله خوښه خپل ډلهایز اقتصادی سازمانونه، چی د سوسیالیستی اقتصاد یوه بله برخه شمیرل کیږی، رامنځ ته کړی. د سوسیالیستی اقتصاد دواړو برخو ټینګښت او پراختیا د ټوله بورژوازی مالکیت او بزګرانو خصوصی اقتصاد د له منځه تلو په بهیر کی پر مخ ځی.

په سوسیالیستی اقتصاد کی ګټه (سود) د فرمان ورکولو د مقام څخه لویږی. د کار قوه او غټ تولیدی وسایل خپل کالایی حیثیت له لاسه ورکوی او د ارزښ د قانون کړني او بورژوازی حق د مخ په زیاتیدونکی ډول سره تر کنټرول او محدودیت لاندی نیول کیږی.

سوسیالیستی کلتور چی د ایدیولوژیک له پلوه سوسیالیستی انقلاب سنبالوی، د سوسیالیستی اقتصاد او سیاست سره په تړاوکی له مخکی نه ډیره وده کوي.

سوسیالیستی انقلاب د پانګوالی څخه و کمونیزم ته د ګذار پړاو دی. د داسی چارو لکه د ارزښ قانون، بورژوایی حق او د فکری او جسمی کار، کارګر او بزګر، ښار او کلی، ښځه او نر تر منځ تضاد او همدارنګه له پخوا نه په میراث پاتی فرهنګ او عقاید او عادتونو وروستی حل او په مجموعی ډول نړیوال انقلاب پوری اړوند چاري د ډیری اوږدی مودی خصلت لرونکی دی. له دي کبله د سوسیالیستی ګذار دوره، یوهډیره اوږد مهاله تاریخی دوره ده.

په دی ټوله اوږده تاریخی دوره کی، طبقی او طبقاتی تضادونه شتون لری، د سوسیالیستی لاری او پانګوالی لاری تر منځ مبارزه جریان مومی، د پانګوالی د بیا راژوندی کیدو ویره شته؛ او د ورانی خطر، او د بهرنی امپریالیستی او ارتجاعی ځواکونو له خوا یرغل، انقلاب ګواښي.

دا تضادونه یواځی «د پرولتاریا تر دیکتاتوری لاندی د انقلاب د دوام » پر تیوری او پراتیک باندي په اتکا سره یعنی د څوڅو کلتوری انقلابونو د پاڅولو او پرمخ بیولو له لاری د «څلور کلیت» په وړاندی د مبارزی پر اساس له ریښی څخه د هغو له منځه وړل، یعنی ټول طبقاتی توپیرونو محو کول؛ د ټولو تولیدی مناسباتو، چی ددی توپیرونو بنسټ جوړوی محو کول؛ د دی مناسباتو په اړوند د ټولو ټولنیزو مناسباتو له منځه وړل او د دي ټولنیز مناسباتو پر بنسټ د اندیښنو او افکارو انقلابی کول، کولای سو چه په نهایی ډول حل و فصل کړو.

د افغانستان کمونیست(مائوئیست) ګوند نهایی موخه او غایی لیرلید د ذکرشوی "څلور کلیت" محوکول او د کمونیزم تحقق دی. دا موخه یواځی د نړی دټولو هیوادونو د پرولتاریاوو انترناسیونالیستی یووالی او نړیوال پرولتاریایی انقلاب د بری له لاری، به لاس ته راشی. کمونیزم فقط د بورژوازی او نور ټولو استثمارګرو طبقو قطعی نسکورول او له منځه وړل او په نهایی ډول د ټولو طبقاتی توپیرونو او استثمارګریو او د ستم نورو ډولونو له منځه وړل او په پایله کی د نړی په کچه د ټولو دولتونو او ګوندونو له منځه تلل، کیدای سی تخقق ومومی. «یا به ټول کمونیزم ته ریسیږو او یا هیڅ څوک»

## 5- د نوی ډیموکراتیک انقلاب تر ټولو مهمی موخی:

**یو:** د هیواد څخه د امپریالیستی یرغلګرو او اشغالګرو ځواکونو رټل او شړل او د لاس

پوځی رژیم نسکورول.
**دوه:** د کمپرادور بورژوازی او فیوډالی طبقاتو د ارتجاعی حاکمیت له منځه وړل.
**دري:** د پرولتاریا تر رهبری لاندی د ولسونو د سیاسی حاکمیت ټینګول، یعنی د خلکو د ډیموکراتیک دیکتاتوری ټینګول، د خلکو د پراخه ولسی استازو د شوراګانو د سیستم پر بنسټ، د پرولتاریا د دیکتاتوری د یو ډول په توګه.
**څلور:** د وګړو د سیاسی او مدنی حقوقو او آزادی خوندي کول، لکه د بیان او عقیدی، رسنیو، غونډو، مسافرت، کار، د کسب ټاکل، زده کړی، د سیاسی ګوندونو جوړول، د صنفی اتحادییو جوړول، د هستوګنځی او مکاتبی او مخابری مصونیت او.... د آزادئ حق د امپریالیزم، نیمه فیوډالیزم او کمپرادور بورژوازی په وړاندی د غوڅ او روغه نه کونکی مبارزی پر بنسټ او همدا رنګه د ملی شوونیزم او جنسی شوونیزم پر ضد مبارزه، په اوسنی شرایطو کی په عمده ډول د آمپریالیستی اشغالګرو او د هغوی د لاسپوځی رژیم پر وړاندی مبارزه.
**پنځه:** د پښتون ملیت د حاکمه طبقو د شوونیزم له منځه وړل، د هیواد د بیلا بیلو ملیتونو اوسنی جبری او تحمیلی یووالی لغوه کول او د دوی ترمنځ د انقلابی او په‌خپله خوښه یووالی منځ ته راوړل او د ټولو ملیتونو له پاره د برخه لیک د ټاکلو حق، د بیلوالی د حق په شمول، او د امپریالیزم او ارتجاع پر وړاندي په موټی ډول نه ستړی کیدونکی مبارزی پر بنسټ، په اوسنی شرایطو کی په عمده ډول د امپریالیستی اشغالګرو او د هغوی د لاس پوڅی ملی خاینانو پر ضد مبارزه.
**شپږ:** د نارینه وو د لوړوالی فیوډالی جنسی شوونیزم له منځه وړل او د ښځو او نارینه وو تر منځ د سیاسی، اقتصادی، فرهنګی او ټولنیز مساوات خوندی کول.
**اووه:** د دولت څخه د دین بیلوالی، د رسمی دین لغوه کول، په ډول ډول ادیانو او مذ اهبو باندي د عقیدی لرلو آزادی او هم په دین او مذهب باندی د عقیدی نه لرلو د آزادی خوندي کول.
**اتــه:** افغانستان د امپریالیزم او ارتجاع له اډي څخه د نړیوال انقلاب په سنګر باندی بدلول او په دی لار کی د پرولتاریایی انترناسیونالیزم پر بنسټ د یو خپلواک انقلابی بهرنی سیاست غوره کول.
**نــه:** ارضی انقلاب د دي شعار پر اساس چی «ځمکه د کروندګرو ده» پرمخ بیول او د نیمه فیوډالی زړو مناسباتو د جړو ویستل او د آزاد کروندګریز اقتصاد رامنځ ته کول.
**لس:** په هیواد کی د امپریالیستی او کمپرادوری ټولی پانګی د رښتینی عمومی سکتور(نوی ډیموکراتیک دولتی سکتور) د رامنځ ته کیدو په منظور مصادره کول.
**یوولس:** د نوی ډیموکراتیک اقتصادی سیاستونو پر بنسټ د هیواد د روغ او پرمخ تللی اقتصاد د پرمختګ په لور، د بهرني سوداګری سمون او د هغه بشپړ ملی کول او د کورني سوداګری سمون او پر هغه څارنه.
**دوولس:** په مساوی او منسجمه توګه د مترقی او مستقیمی مالیی د اصل تطبیق.

**دیارلس:** د ملی اقتصاد د انقلابی ودي او غوړیدلو خوندي کول او په امپریالیزم پوری د وابستگی څخه د خلاصون د پاره د پلان سوی اقتصاد رامنځ ته کیدل.
**څوارلس:** په انقلابی سیاست کی د کروندګرو د برخه اخیستو، د ارضی انقلاب د تګلاری تطبیق، د کروندګریزو هغو تعاونیو او کوپراتیفونو جوړول چه د کرنیزو کمونونو او دولتی کروندو په کچه د ارتقا ستراتیژیک استقامت ولری او په مدامه توګه د هغوی د رهبری کولو د پاره، د کروندګریزو شوراګانو جوړول.
**پنځلس:** په انقلابی سیاسی قدرت کی د کارګرانو د برخی اخیستو، د کارخانو او سترو کانونو اداره او د متوسطو او کوچنیو پانګه والو په کړنو باندی څارنی په خاطر د کارګری شوراګانو جوړول. همدارنګه د کار د نوی قانون جوړول، په ورځ کی حد اقل د اته ساعتونو کار ټاکل او د کارګرانو لپاره حد اقل مناسب میاشتنی تنخوا ټاکل د دي شوراګانو په مشوره.
**شپاړس:** د خراقاتی فکرونو او علمی بیوزلی له منځه وړل او ولسونه د علم او پوهی په ګاڼه پسولول.
**اوولس:** د بیسوادی او فرهنګی بیوزلی وژونکی ناروغیو له منځه وړل.
**اتلس:** د سیاسی جهالت او ناپوهی له منځه وړل او د ولسونو انقلابی سیاسی پوهی ته وده ورکول او پیا وړي کول.
**نولس:** د نوی ډیموکراتیک ولسی، علمی او انقلابی ملی فرهنګ رامنځ ته کول او روزل.
**شل:** هیواد ته د کډوالو د با عزته بیرته راستیدو لپاره آسانتیاوی برابرول.
**یوویشت:** د هیواد د ژوند د چاپیریال د پاکوالی احیاء او ساتل او د نړئ د ژوند د چاپیریال د احیاء او ساتلو لپاره د نړیوال مبارزی پرمخ بیول.

# 6 ـ د ګوند مبارزاتی ستراتیژی:

د افغانستان د کمونیست (مائوئیست) ګوند ستراتیژی په هیواد کی د نوی ډیموکراتیک انقلاب د بری لپاره د خلکو د جګړی ستراتیژی ده. په اوسنی شرایطو کی چه هیواد د امپریالیستی ځواکونو تر اشغال لاندي ده او د لاسپوڅی رژیم پوشالی حاکمیت پر هغه باندي تپل سوی دی، د امپریالیستی اشغالګرو او پوشالی رژیم په وړاندی ملی ولسی او انقلابی مقاومت جګړه، په هیواد کی د خلکو د جګړی اوسنی مشخصه بڼه ده.
په دغسی شرایطوکی، د اشغالګرو او د هغو د لاسپوڅو په وړاندي د ټولو ځواکونو او پرګنو سرتاسری بسیج او پر دغسی مقاومت باندي تمرکزکول، د اوسنی پړاو د عمده مبارزاتی دندی په توګه، یو اړین او لازمی امر دی چه د هغه په وړاندی پام نه کول فقط کیدای سی یوازی عمده دښمن ته ګټه ورسوی. دا رنګه بسیج او تمرکز، په لمړی ګام کی د ټولو جګړییز مقاومت کونکو ځواکونو تر منځ کورنی سوله ساتل او بیا د ټولو مقاومت کونکو ځواکونو او پرګنو تر منځ د ډیموکراسی خوندی کول دی.
د افغانستان کمونیست(مائوئیست) ګوند، د دي رنګه کورنی سولی او ډیموکراسی خوندي کولو لپاره مبارزه د ځان یوه مهمه مبارزاتی مسئولیت او دنده بولی او پخپل ټول زور او

طاقت سره پردی مسیر باندی خوځیږی. دا مهمه مبارزاتی دنده او مسؤلیت، د عمومی مقاومت په د ننه کی د ګوند او د هغه تر رهبری لاندي ځواکونو په وړاندی د کمونیست ضد کلک دریځو تیری او یرغل په مقابل کی اغیزناکه دفاع هم په برکی نیسی.

د خلګو جګړه په کل کي، پر هیواد او د هیواد پر خلګو د امپریالیزم او ارتجاع د ولکی له منځه وړلو، د خپلواکی او ملی آزادی ترلاسه کولو، او د خلګو د ولسونو ډیموکراتیک حقونو خوندي کولو په خاطر د پرولتاریا د انقلابی مخکښ تر رهبری لاندي د خلګو د پرګنو جګړه ده.

په هیواد کی د نوی ډیموکراتیک انقلاب بری د خلګو د جګړی ستراتیژیک استقامت دی. د خلګو د جګړی عمده ځواک په هر حالت کی کروندګر جوړوی او کارګره طبقه د خپل مخکښ ګوند له طریقه دا جګړه رهبری کوي.

په افغانستان کی د خلګو د جګړی د خوځیدلو اصلی ستراتژیک محور په کلیو کی جګړه او د کلیو له لاری د ښارونو محاصره کول جوړوی. اما په عین حال کی په ښارونو او د دښمن د عسکری قطعاتو منځ کی د ښاری چریکی جګړی او قسمی پاڅونونو پر مخ بیول هم د دي جګړی اړینه برخه ده، چی کولی شی د دښمن ځواکونو ته کلک ګوزار ورکړی، او د هغوی ډیر شمیر په ښارونو کی میخکوب کړی، د ښارونو او د ښارونو د شاوخوا پرګنو په جګړه کی فعاله وساتي او د ښارونو د ننی څخه د نیولو زمینه برابره کړی، او په دی توګه کلیوالو سیمو کی جګړی ته په اغیزناکه توګه ګټه ورسوی.

د خلګو جګړه یو اوږد محاله جګړه ده چی د پیل د وخت څخه تر سرتاسری بری پوری کلونه کلونه دوام پیدا کوی. د جګړی د دی اوږدی پروسی په بهیرکی دی چی کمزوری او ناتوانه انقلابی ځواکونه په پرله پسی توګه وده کوی او په پیاوړی او پراخه ځواکونو باندی بدلیږی. دا اوږده جګړه د درو ستراتیژیکو پړاونو یعنی ستراتژیک دفاع، ستراتیژیک انډول او متقابل ستراتیژیک برید څخه تیریږی.

د جګړی په لمړی پړاو کی چه د خلګو د جګړی ځواکونه کمزوری دی، دي ته اړ دی چی د ستراتیژیک دفاع پړاو تیر کړی. د خلګو د جګړی دا پړاو خورا ګران پړاو دی او ټینګ احتمال لری چی د هغه تر ټولو اوږد پړاو هم وي.

د جګړی په دوهم پړاو کی چه د خلګو د جګړی ځواکونه په نسبی ډول سره وده کوی او د دښمن ځواکونوته یی درانه ګوزارونه ورکوی، د جګړی د دواړو خواوو ځواکونو تر منځ یو ډول انډول رامنځ ته کیږی چی معمولا ډیره اوږده به نه وي او د جګړی دواړی خواوی به هلی ځلی وکړی چی ډیر ژر دا حالت په خپله ګټه ګډوډ کړی.

د جګړی په دریم پړاو کی چی د خلګو د جګړی ځواکونه د متقابل ستراتیژیک برید په حالت کی دي او د دښمن ځواکونه د ستراتیژیک دفاع او شاته تګ په حال کی، کیدای سی دا پړاو دومره اوږده نه وي او یا څه ناڅه لږ اوږد سی.

د خلګو جګړه د کلیوالی سیمو انقلابی اډو باندی ولاړه ده. دا د انقلابی اډو کلیوالی سیمی د جګړی د ستراتیژیک شاګونو حیثیت لری چی د اساسی او ټاکونکی اهمیت نه برخمن دی.

د خلګو جګړه پر دی ستراتیژیک شاګونو باندی په تکیی سره کولای شي د منازعی پر سیمو(پارتیزانی سیمی) او د دښمن تر اغیزناک کنترول لاندي سیموکی مخ ته ولاړ شی او خپور شی. دا د انقلابی اډو سیمی کیدای شی چی پټ، نیمه ښکاره او یا ښکاره حالت

ولری، مګر د هغوی د رامنځ ته کولو او پیاوړتیا لپاره مبارزه؛ یوه ډېره نه کیدونکی اړتیا ده؛ ځکه د دی پرته جګړه د سیاسی سرتاسری بریالیتوب او سیاسی قدرت د لاس ته راوړلو له پلوه د یو روښانه لرلید څخه بی برخی کیږی.
د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند، د هغه تر رهبری لاندی پرګنو او د هغه نژدی متحد سیاسی ځواکونه، د انقلابی اډو په سیموکی د هغه سیاسی واک او تولنیزو اړیکو نمونی چی غواړی د امپریالیزم او ارتجاغ د حاکمیت د ولکی پر ځای راولی، را منځ ته کوی. دا کار په ډاډمنه توګه د پرګنو ملی ولسی او انقلابی پوهی ته ارتقا او پراختیا ورکوي او د خلګو د جګړی د لمنی د پراختیا وړ شرایط برابروی.
د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند د خلګو د جګړی بریا لی پرمخ بیولو لپاره، د هیواد د بیلا بیلو ملیتونو پراخ ولسونه او خلګ، ښځی او نارینه، د جګړی په بهیر کی سمبال او سره یو کوي او د دوی له منځه تر ټولو غوره جنګیالی په روزلو او چمتو کولو سره، د خلګو اردو رامنځ ته کوی. د خلګو اردو د کمونیست ګوند څخه وروسته د انقلاب د اړتیا وړ دوهمه وسله ده او تر ټولو غوره ولسی تشکیلات شمیرل کیږی. د خلکو د اردو جوړیدل او د هغه ورځنی پیاوړتیا پخپله یوه اوږده پروسه ده. د خلګو د جګړی پرګنیز خپوروالی اړینتوب غوښتنه ده چه د خلګو د اردو تر څنګ، پرګنیز چریکی ډلی او د خپل دفاع په خاطر وسله واله ډلي جوړ شی او په جګړه کی د خلکو د اردو د جنګیالیو سره اوږه په اوږه برخه واخلی.
د خلګو جګړه د پوهی او پلان سره جګړه ده چی د هغه د پیلولو او پرمخ بیولو لپاره باید تدارکاتی ټاکلی او لازم فعالیتونه تنظیم او پر مخ بوتلل سی.
د افغانستان د کمونیست (مائوئیست) ګوند خپل ایدیولوژیک ـ سیاسی او تشکیلاتی تدارک د دي جګړي د پیلولو او پر مخ بیولو لپاره چمتو کیدل، د خلګو د جګړي د پیلولو او پرمخ بیولو لمړنئ تدارکی دنده ده.
پرګنیز تدارک یعنی پرګنیز کار پر مخ بیول او پرګنو تر هغه حده متشکل کول چی وکولای سو د هغو په اتکا سره جګړه پیل کړو او پر مخ بوزو، د خلګو د جګړي د پیلولو او پر مخ بیولو دوهمه تدا رکاتی دنده ده.
د مساعدو سیمو پیژندنه او په هغو سیمو کی د ګوندي او پرګنیز فعالیتونو متمرکز کول، د خلګو د جګړي د پیلولو او پر مخ بیولو لپاره د تدارک بله مهمه دنده ده.
لوژیستیکی تدارک یعنی د جګړی د پیل لپاره د حد اقل ضروری وسایل او تجهیزات او د نظامی او غیر نظامی امکاناتو برابرول، د خلګو د جګړی د پیلولو او پر مخ بیولو لپاره یو بل ضروری تدارکاتی فعالیت دی.
د افغانستان کمونیست (مائوئیست ) ګوند د خلګو د جګړی د پر مخ بیولو او په مجموع کی د انقلابی مبارزاتو پر مخ بیولو لپاره، تر خپلی رهبری لاندی متحده جبهه د نوی ډیموکراتیک انقلاب د دریمی اړینی وسلی په توګه جوړوی. د متحدی جبهی اصلی ستنه، په ستراتیژیک لحاظ، د کارګرانو او بزګرانو یووالی دی چی د کمونیست(مائوئیست) ګوند په واسطه د کروندګریز پرګنو د بسیج او متشکل کولو له لاری په کلیوالی انقلابی پایګاهی سیمو کی منځ ته راځی.
د افغانستان د کمونیست (مائوئیست) ګوند د مبارزاتی اړتیاوو په نظر کی نیولو سره، د

خلکو د جګړې د پیل نه مخکې شرایطو کې هم کولای سې په ډول ډول طبقاتي او سیاسي ایتلافونو لاس پورې کړي. ولې په هر حالت کې د خپل ایدیولوژیک ـ سیاسي، تشکیلاتي او نظامي خپلواکې د ساتلو لپاره په ټینګه او کلکه او د انقلابي دریځونو د پیاوړې کولو او د پرولتاریا د ګټو د خوندي کولو لپاره، مبارزه کوي. یوازې په دې ډول کیدای سې چه په ډول ډول طبقاتي او سیاسي ایتلافونو لاس پورې کول د ګوند د مبارزاتي ستراتیژۍ په چوپړ کـې وي.
پرګنیز مشې د ګوند د مبارزاتي ستراتیژۍ یو د مهمو اړخو څخه ده. پرګنو د تاریخ جوړونکې دي. د خلکو د جګړې بریالیتوب او په عمومي ډول د انقلاب بریالیتوب، د دې د بسیج، سازمان ورکولو او د هغو د رهبرۍ کولو نه پرته ممکنه نده. دا هغه مسولیت دی چې د پرولتاریا د انقلابي ګوند په غاړه ده. د دې مسولیت سرته رسول د پرګنو سره د نژدې تړاو او د پرګنیز مبارزاتي دندو د اجرا څخه پرته ممکنه او کیدونکې نده.
د پرګنو منځ ته د انقلابي شعور او پوهې وړل د ګوند یو د مهمو پرګنیز دندو څخه دې ځکه چې د ولسونو په منځ کې انقلابي شعور خود په خوده نه رامنځ ته کیږي. د دې مهمې دندې سرته رسول د ګوند او پرګنو تر منځ د نژدې تړاو یو مهم شکل دی.
د ګوند بله مهمه پرګنیز دنده د پرګنو څخه زده کړه ده. دا زده کړه د پرولتاریایي انقلاب پر علم باندي په اتکا سره سرته رسیږي. ګوند د پرګنو تیت او پرک نظریې را غونډوي، د پرولتاریایي انقلاب د علم څخه په ګټې اخیستو سره هغو تجزیه او تحلیل کوي او د هغو لنډیز جوړوي اود پرګنو منځ ته یې وړي تر څو پرګنو دغه په علمي لحاظ لنډ سوې نظریې خپل وګڼي او ښه یې جذب کړي.
پر ګوند باندې د پرګنو څارنه منل، د پرګنو څخه د ګوند د زدکړې یوه مهمه برخه جوړوي. ګوند مکلف دی چې د پرګنو نظریاتو ته د ځان په برخه کې په غور سره غوږ ونیسي او دغه ویناوې د مارکسیزم- لیننیزم- مائویزم د معیارونو پر بنسټ تجزیه او تحلیل کړي او د هغوی علمي پایلي پکار واچوې.
د دې دندي سرته رسول، د پرګنو سره د ګوند د تړاو یو بل مهم ډول شمیرل کیږي.
د پرګنو بسیجول او سازماندهي کول او د هغو د مبارزو رهبري کول، د ګوند یوه بله مهمه پرګنیز دنده شمیرل کیږي. ګوند د پرګنو په بسیجولو او سازماندهي کولو او د هغو د مبارزو رهبرې کولو سره، دي مبارزو ته پوهه او سمون ورکوي او د فتح او بریالیتوب په لوري یې خوځوي. پرته له انقلابي ګوند چه په پرولتاریایي انقلابي علم باندې سمبال وی او د انقلابي مبارزو د بهیر لوړو او ژورو او د هغو څخه د تیریدو د درک توان ولرې، پرګنو ماته خوری. د دي دندي سرته رسول هم د پرګنو سره د ګوند د تړاو یو د مهمو ډولونو څخه دی.
د ګوند پرګنیز تړاو او دندي، یو د بل سره تړلې دی او یو پر بل باندې متقابل اغیزه کوی. د دي د سرته رسولو او رامنځ ته کولو پرته، ګوند یا پخپل ځان کې د یوې فرقې په توګه ډوبیږې او یا د پرګنو دنباله روي کوی. یوازې د همدې دندو په سرته رسولو او د اړیکو په رامنځ ته کولو، د ګوند جوړښت، ټینګیدل او پراخیدل د پرګنو په منځ کې په بریالیتوب او دوامدار ډول پر مخ ځي.
پرګنیز مشې د پرګنونو د ټولو برخو سره د یو شان چلند په معنا نده. پـرګـنـو پـه عـمـومـې

توګه د دری برخو څخه جوړیږي: پیشروه برخه، منځنی برخه او وروسته پاتی برخه.
ګوند، پیشروه برخه تر خپلی رهبری لاندی اتحاد وربخښی، پر دغه برخه باندی په اتکا سره د منځنی برخه د پوهی سطحه لوریی او ځانته یی را کاږي او تلاښ کوی چی وروسته پاتی برخه هم په ځان پسی راوکاږی او یایی حد اقل خنثی کړي.
«رهبران باید په مهارت سره قلیل فعال عناصر د رهبری پر شاوخوا متحد کړي او پر هغو باندی په اتکا سره د منځنی برخی د سیاسی پوهی کچه لوړه بوزی او وروسته پاتی عناصر ځان ته را جذب کړی .»
د افغانستان کمونیست (مائویست)ګوند، د خلکو جګړه د پرګنیز مبارزی عمده ډول او انقلابی اردو د پرګنیز تشکیلاتو عمده ډول ګڼی او نور ټول پرګنیز مبارزی او پرګنیز تشکیلات د دی مبارزو د تدارک او پر مخ بیولو او د دي تشکیلاتو د رامنځ ته کولو او وده ورکولو په چوپړکی لمن وهي. انقلابی مبارزه په کل کی او د هغه اوسنی مشخص ډول یعنی ملی ولسی او انقلابی هر اړخیز مقاومت او مبارزه په ځانګړی ډول، هغه مبارزه او مقاومت دی چه د خلکو د جګړی د تدارک، پاڅولو او پر مخ بیولو پر محوریت باندي، چه د هغه اوسنی ځانګړی ډول ملی ولسی او انقلابی جګړه ده، پرمخ بیول کیږي.
نو ځکه د غیر عمده ډولونو اما مهمو پرګنیزو مبارزو د ودي او پرمخ بیولو لپاره مبارزه او د غیرعمده اما مهم پرګنیز تشکیلاتو د تکامل او رامنځ ته کولو لپاره مبارزه، هم د ګوند د پرګنیز مشی برخه ده. دي مبارزو ته پام نه کول او یا لږ پام کول، د ګوند ټوله پرګنیز مشی خدشه داره کوي.

# دوهـــم ځـــپـــرکـــی
# د افغانستان د کمونیست (مائویست) گوند
# تشکیلاتی آئین نامه

## ۱ -- تشکیلاتی اصول:
### ډیموکراتیک سنټرالیزم:
**لومړی ماده:** د افغانستان کمونیست (مائویست) گوند تشکیلاتی اساسی اصل ډیموکراتیک سنټرالیزم دی چه په هغه کی سنټرالیزم عمده دی. په دی اصل کی لاندینی موازین شامل دی:

الف: د افغانستان کمونیست (مائویست) گوند ټول فعالیتونه په ټولو سطحو کی، په هیواد کی د خلکو د جگړی، چه د هغه اوسنی ځانگړی ډول د ملی ولسی او انقلابی مقاومت جگړه ده، د تدارکو، پاڅولو او پرمخ بیولو د اړتیاوو پر بنسټ، د گوند تر متمرکزی رهبری لاندی تر سره کیږی.

ب: په ټولو سطحو کی د گوند د رهبری هیئتونه د ټاکلی مودی لپاره په ډیموکراتیکه توگه ټاکل کیږی.

ج: ټول گوند باید واحد انضباطی اصول مراعات کړی چه عبارت دی له:

1 - د تشکیلاتو څخه د فرد تبعیت.
2 - د اکثریت څخه د اقلیت تبعیت.
3 - د لوړو سطحو څخه د لاندنی سطحو تبعیت.
4 - د مرکزی کمیټی څخه د ټول گوند تبعیت.

د: د گوند د رهبری هیئتونو او تشکیلاتی بدنی په ټولو سطحو کی، رهبری ډله ایزه او مسئولیت فردی دی.

هـ: په ټولو سطوح کی د گوند غړي او همدا رنگه په گوند کی د غړیتوب داوطلبان باید خپل گزارشات مسئولینوته یا مربوطه رهبری هیئتونو ته وړاندی کړی او د نوموړو گزارشاتو په اړه لاربښوونی وکاروی، په ټولو سطحوکی د گوند رهبری هیئتونه باید کنگرو یا د غړو عمومی غونډو ته خپل گزارشات وړاندی کړی او د نوموړو گزارشاتو په اړه لاربښوونی وکاروی.

و: په ټولو سطوح د گوند پر رهبری هیئت باندی د گوند د غړو او د غړیتوب داوطلبانو څار. د گوند رهبری هیئتونه باید د حزب د غړو او داوطلبانو وړاندیزونو او نظریاتو ته غوږ ونیسی او سم نظریات او وړاندیزونه ئی ومنی.

## نیوکه او په ځان نیوکه:
**دوهمه ماده:** د نیوکه او پر ځان نیوکي د اصل په ټینگه او پیگیره ډول اجرا د تشکیلاتو په ټوله بدنه کی او د گوند د رهبری په ټولو سطوح کی د گوند د سازمانونو او

غړو د نیمګړتیاوو او تیروتنو د پیژندلو او د هغه د لمنځه وړلو لپاره یو اړین امر دی. د نیوکی او په ځان نیوکی اصل، په ځان او په نورو باندی د نیوکی څرګندوی دی. د دي اصل د تطبیق لپاره، ګوند په خپلو تشکیلاتی مناسباتو کی لاندینی مقررات منلي دي:
الف: د ګوند غړي او د غړیتوپ داوطلبان کولای سی چی د غړیتوپ داوطلبان، غړي او تشکیلاتی
واحدونو او په ټولو سطوح کی د ګوند د رهبری هیئتونه تر نیوکی لاندی ونیسی او د هغو په اړه خپل وړاندیزونه وړاندي کړی.
ب : د نیوکی څخه مخنیوی کول په هیڅ ډول جایز ندی.
ج: د نیوکی په مقابل کی د غچ اخستنی عمل په هیڅ ډول جایز نه ګڼل کیږی.
د: نیوکه باید د تشکیلاتی لارو څخه په لازم وخت کی طرح او په تشکیلاتی غونډو کی تر څیړنی لاندی ونیول سی.
هـ: نیوکه باید د اصلاح په خاطر مطرح سی او نباید د تر نیوکی نیول شوی خوا د شرمولو او غچ اخستلو د حربی په توګه تری ګټه واخیستل شي.
و: هغو نیوکو چی څیړنه یی سوی وی، لازمه نده چه بیا له سره مطرح سی.
ز: د غړیتوب داوطلبانو، غړي، تشکیلاتی واحدونه او د رهبری هیئتونه په ټوله سطوح کی، باید خپلي نیمګړتیاوی او تیروتني تل په نښه کی او نیوکه پري وکړی او د هغه د رفع کولو لپاره هڅه وکړي.
ح: د غړیتوب داوطلبان، غړي، تشکیلاتی واحدونه او د رهبری هیئتونه په ټوله سطوح کی، باید په ځان باندی سمی نیوکی په زړه ورتیا ومني او د هغو د رفغ کولو لپاره هڅه وکړي.

## فراکسیونیزم مجاز نه دی:

**دریمه ماده:** د افغانستان کمونیست (مائویست) ګوند په افغانستان کی د پرولتاریا د ارادی یووالی او د عمل یووالی ممثل دی، نو ځکه په هغه کی د هیڅ ډول مرکزونو تعدد او فراکسیونیزم ته اجازه نسته.

## د ګوند په داخل کی د دوه خطونو تر مینځ مبارزه:

**څلورمه ماده:** د غړیتوب داوطلبان، غړي، تشکیلاتی واحد ونه او د ګوند رهبری هیئتونه په ټولو سطوح کی حق او دنده لری چی د دوه خطونو په مبارزی په فعاله توګه لاسی پوری کړی. د دی سیاست د تر سره کولو لپاره، ګوند د رهبری هیئتونو، غړو او تشکیلاتی واحدونو او د غړیتوب داوطلباتو لپاره په ټولو سطوح کی، لاندینی دندې او حقوق په نظر کی نیولی دي:
الف: د غړیتوب داوطلبان، د ګوند رهبری هیئتونه او تشکیلاتی واحدونه په ټولو سطوح کی، دنده لری چی په ګوند کی د ننه د پرولتاریائی ضد نظریو او پلانونو په وړاندي ایدیولوژیک- سیاسی او تشکیلاتی مبارزه پرمخ بوځی.
ب: په هر ګوندي سازمان کی اقلیت حق لری چی خپل نظریی د ګوند لوړپوړی نهاد ته په شفاهی او یا لیکلی توګه ولیږدی، لوړ پوړی ګوندي نهاد باید نوموړی نظریات ولولی او هغه ته ځواب ورکړی او د اړتیا سره سم د سفارښت سره یو ځای د اړوند واحد د غړو په

منځ کی دي وویشی او یا د مرکزی کمیتی د موافقی په صورت کی درونی مرکزی خپرونی او یا اړوند درونی سیمه ایزی خپرونی ته د خپرولو لپاره وسپاری.
ج: که چیری ګوندي حلقه (کړۍ) د بنسټیزه کمیتی سره، د بنسټیزه کمیټه د سیمه ایزی کمیتی سره یا سیمه ایزه کمیټه د مرکزی کمیتی سره د شته ستونزو د حل د لاری او د هغوی د عمومی نظربرید په هکله اختلاف رامنځ ته شي، کښتنی رهبری هیئت کولای شی د اختلافاتو د حل په منظور د لوړنی رهبری هیئت سره د بشپړ بحث لپاره د غونډو د جوړولو غوښتنه وکړي. که چیری د اختلاف وړ مسایل حل او فصل نشی، نو د کښتنی رهبری هیئت باید د لوړنی رهبری هیئت د پریکړو پربنسټ عمل وکړی، مګر حق لری چه خپل نظریات وساتی او د ګوند وروستنی لوړنی رهبری هیئت ته انتقال کړي. که چیری بیا هم اختلافات حل او فصل نشو، مرکزی کمیټه باید اجازه ورکړی چی د بحث وړ مسایل د ګوند په داخلـی سیـمـه ایـزی خـپـرونـی او یـا داخـلـی مرکزی خپرونی کی انعکاس ورکول سی.

## مخفی کاری:

**پنځمه ماده:** مخفی کاری د ګوندی تشکیلاتو یو جدی اصل ګڼل کیږي چه د دی اصل جدی رعایت د ګوند د شتون، ساتنی او د ګوند د مبارزاتی پایښت او دوام لپاره، د ګوند د مبارزاتی تکامل د بیلابیلو پړاوونو د شرایطو سره سم، اړینه ده. په اوسنی شرایطوکی چه ګوند د خلکو د جګړی د هڅولو او پرمخ وړلو په تدارکی پړاوکی دی، د مخفی کاری اصل باید په ټینګه په نظر کی ونیول سی. په عین حال کی د مخفی کاری اصل د یو مبارزاتی اصل په توګه د محافظه کاری او پاسیفیزم توجیه کیدونکی کیداي نسی. په دا تشکیلاتی اصل لاندینی موازین شامل دی:
الف: د انقلاب د دښمنانو څخه د ګوند د تشکیلاتی اډانی پټ رامنځ ته کول او هغه د انقلاب د دښمنانو د عواملو څخه د پټ ساتلو د پاره مبارزه، د ګوند د مبارزاتی تکامل بیلابیلو پړاوونو ځانګړی شرایطو پر بنسټ.
ب: د ګوند د تشکیلاتی مراتبو سلسله په ټینګه مراعات او د ګوند په تشکیلاتو کی د افقی اړیکو د نیولو څخه ډډه کول.
ج: په جدی توګه د ګوندي ګزارش ورکولو د مراتبو سلسله رعایت او د ګوند کښتو تشکیلاتی سلسله مراتبو سطوح ته د غیر ضروری ګزارش ورکولو څخه ډډه کول.
د: په زړه ور تیا سره او په هر ډول شرایطو کی د ګوند د اسرارو دقیق ساتنه.
هـ: د ګوند د غړو، د غړیتوب داوطلبانو او هوادارانو ته د ګوند د غړو هویت او تشکیلاتی موقعیت د غیر ضروری افشا کولو څخه په دقت ډډه کول.
و: د ګوند غړو، د غړیتوب داوطلبانو او هوادارانو ته د خپل هویت او ګوندی تشکیلاتی موقعیت د افشا کولو څخه، د ګوند هر غړی دقیق ډډه کول.
مخفی کاری په ټولنه کی د ګوند د موجودیت، ایدیولوژی، سیاسی تګلاری او مبارزاتی ستراتیژی د پټ ساتلو په معنا نه ده، بلکه د انقلاب د دښمنانو له خوا د ګوند پر تشکیلاتو باندي د ګوزار کولو د مخنیوی لپاره یو امنیتی اصل دی.

## ۲-- د تشکیلاتو جوړښت:

### سراسری کنګره:

**شپږمه ماده:** سراسری کنګره د افغانستان د کمونیست (مائویست) ګوند تر ټولو لوړه تشکیلاتی مرجع ده چه د مرکزی کمیټی په بلنه په هرو پنځو کلونو کی یو ځل دایریږی.
سراسری کنګره کیدای سی چه د ګوند د ټولو غړو د دوه ثلثو په وړاندیز او یا د مرکزی کمیټی د دوه ثلثو د پریکړی له مخی د خپل ټاکلی وخت نه وروسته دایره سی.

**اوومه ماده:** د ګوند د سراسری کنګری دندی او صلاحیتونه په لاندی ډول دی:
الف: د مرکزی کمیټی سیاسی ګزارش ته غوږ نیسی او تر ارزونی لاندی ئي نیسی.
ب: د ګوند د اساسنامی مسودی او د هغه ضمیمی تصویبوی او یائی اصلاح کوی.
ج: د ګوند په سیاسی خط مشی پوری اړوند اساسی لار ښوونی ټاکی.
د: د مرکزی کمیټی د اصلی او علی البدلو غړو ټاکنه په سری رای اچولو سره تر سره کوی.

**اتمه ماده:** د ګوند په سراسری کنګره کی ګډون کوونکی عبارت دی د:
الف: د مرکزی کمیټی اصلی او علی البدلو غړی.
ب: د تشکیلاتی واحدونو منتخب استاذی.
ج: د لزوم په صورت کی د ګوند غړی یا غړي په مشورتی رایه سره.
د: د بین المللی مارکسیستی- لنینیستی- مائویستی تشکیلاتو استاذی یا استاذي – د شتون په صورت کی- او د لزوم په صورت کی د نورو هیوادونو د مارکسیست- لننیست- مائویست ګوندونو او سازمانونو استاذی یا استاذي په مشورتی رایو سره.

**نهمه ماده:** د هری کنګری څخه د مخه د سراسری کنګری لپاره د استاذو د ټاکنی ضوابط او نسبت د مرکزی کمیټی لخوا تر سره کیږی او اړوند مراجعوته خبر ورکول کیږی.

**لسمه ماده:** سراسری کنګره په هغه صورت کی کیدای سی دایره سي چه رایه لرونکی اکثریت ګډون کوونکی د کنګری په غونډه کي حضور ولری.

**یوولسمه ماده:** د کنګری فوق العاده غونډه کیدای سی د ګوند د ټولو غړو د دوه ثلثو د وړاندیز په اساس یا د مرکزی کمیټی د غړو د دوه ثلثو په پریکړی سره دایره سی.

### مرکزی کمیټه:

### دولسمه ماده:

مرکزی کمیته د دوو سراسری کنګرو تر منځ واټن کی د ګوند تر ټولو لوړ تشکیلاتی مرجع او په ټولو برخو کی د ګوند د فعالیتونو رهبری کونکی دی او د ګوند د سراسری کنګری په وړاندی مسئولیت لری.

### دیارلسمه ماده:

**د مرکزی کمیټی مهمی دندی او صلاحیتونه:**

مرکزی کمیټه:

الف: د ګوند ټولی بدنی ته د کنګری د کار د راپور وړاندی کولو مسئول او د کنګری د مصوباتو د سرته رسولو او پرمخ وړلو مسئول دی.
ب: د ګوند بیلابیل سازمانونه رهبری، تنظیم او همږغه کوي او همدا رنګه نوي ګوندی سازمانونه منځ ته راوړی.
ج: په افغانستان کی د نورو ګوندونو او سیاسی ځواکونو په تړاو د خپل ګوند استاذیتوب کوی.
د: د مرکزی نشراتی ارګان، د داخلی مرکزی نشریه او د ګوند د نورو مرکزی نشریاتو د خپرونو مسئولیت په غاړه لری.
هـ: د ګوند نظامی فعالیتونه او نظامی تدارکی فعالیتونه رهبری کوی.
و: د ګوند مالی چاری، تنظیم، رهبری او کنترولوی.
ز: د ګوند د دوامداره هدایت او رهبری لپاره لازم بنسټونه لکه نظامی کمیټه رامنځ ته کوی او د هغه غړي ټاکی.
ح: د ګوند د یووالی د ساتنی مسئولیت په غاړه لری. کله چی د ګوند ټاکلی سیمه ایز یا محلی رهبری هیئت فعالیتونه فراکسیونی بڼه غوره کړی او د هغه په وړاندی سیاسی-ایدیولوژیک مبارزی مثبته نتیجه ورنکړي، مرکزی کمیټه کولای سی چه نوموړی رهبری هیئت منحل کړی او محلی یا سیمه ییز تشکیلات د سره ورغوي.
ط: کولای سی په ډله ایزه توګه د محافل او ګروپونو غړیتوب په ګوند کی ومنی او هغوی په ګوندی تشکیلاتو کی ادغام کړی.
ی: د نوی کمونیستی انترناسیونال د جوړښت لپاره د ګوند د برنامو جوړلو مسئولیت او د مبارزاتی فعالیتونو رهبری، او په دي لاره کی د ګوند د برنامو جوړولو او مبارزاتی فعالیتونو د بین المللی مارکسیستی ـ لنینیستی - مائویستی تشکیلات د جوړښت، پیاوړتیا او پراخوالی لپاره او همدا رنګه د نوموړی تشکیلات او د نورو هیوادونو مارکسیستی-لنینیستی- مائوئیستی ګوندونو او سازمانونو سره د اړیکو د پرمخ بیولو مسئولیت په غاړه لری او همدا رنګه د ګوند د ګډون ځرنګوالی په بین المللی کمپاینونو کی او د ګوند نور نړیوال مبارزاتی فعالیتونو سمون او رهبری کوی.
ک: د ګوند د سراسری کنګری تشکیل پوری اړوند کارونو او کنګری ته د سیاسی راپور د وړاندی کولو د سمون او رهبری مسئولیت په غاړه لری.
ل: په ګوند کی د ننه او په نړیواله کچه و دوه خطی مبارزو ته د لمن وهلو او د دی مبارزو د رهبری مسئولیت به غاړه لري.
م: د ضرورت په صورت کی کولای سی د مرکزی کمیټی لپاره، د علی البدلو غړو له منځ څخه، نوی غړی یا غړي وټاکی. د ضرورت په صورت کی کولای سی د مرکزی کمیټی لپاره، د ګوند د کدرونو له منځ څخه، نوی علی البدل غړی یا غړي وټاکی.
ن: د ګوند د سیمه ایزو واحدونو د ګزارشاتو منظم تجزیه او تحلیل او پرهمدی بنسټ هغوی ته د اړتیا وړ لارښوونو وړاندی کولو مسئولیت په غاړه لری.
**څوارلسمه ماده:** د کنګری څخه وروسته د مرکزی کمیټی لومړنی پولینوم، د سیاسی دفتر غړي او همدا رنګه د مرکزی کمیتی صدر او د مرکزی کمیتی د صدر مرستیالان د سیاسی دفتر د غړو له منځ څخه ټاکی. د مرکزی کمیټی نور پولینومونه په کال کی یو ځل

د مرکزی کمیټی د سیاسی دفتر لخوا را بلل کیږی. دا پولینومونه کولای شی د ضرورت په صورت کی د مرکزی کمیټی د سیاسی دفتر، د مرکزی کمیټی د صدر او مرستیالانو په ټاکلو له سره لاس پوری کړي.

**پنځه لسمه ماده:** د مرکزی کمیټی فوق العاده پولینومونه کولای سی چه د سیاسی دفتر د بلنی پر بنسټ دایر سی.

**شپاړلسمه ماده:** د مرکزی کمیټی د دوو پولینومونو د واټن په منځ کی، د ګوند د مرکزی کمیټی سیاسی دفتر د ګوندی ټل فعاله رهبری کونکی هستی په توګه، د مرکزی کمیټی دندې ـ د ګوند د کدرنو له منځ څخه د مرکزی کمیټی لپاره د نوي علی البدل غړی یا غړو له ټاکلو پرته ـ په غاړه لری او د هغی قدرت اعمالوی.

د مرکزی کمیټی سیاسی دفتر د مرکزی کمیټی و پولینومونو ته د منظمو ګزارشاتو د ورکولو مسئولیت په غاړه لری.

د مرکزی کمیټی سیاسی دفتر باید د خپلو کړنو د سرته رسولو لپاره د مرکزی کمیټی د پولینوم موافقه تر لاسه کړی.

## سیمه ایزه تشکیلاتی واحدونه:

**اوولسمه ماده:** د ګوند سیمه ایزه تشکیلاتی واحدونه، د ګوندی تشکیلاتو د مبارزاتی اړتیاوو او د کار د غوښتونو له مخی، په بیلا بیلو سیمو کی تشکیلیږی. هر سیمه ایز تشکیلاتی واحد د یو شمیر ګوندی بنسټیز تشکیلاتی واحدونه په بر کی نیسی.

**اته لسمه ماده:** لومړنی سیمه ایزه غونډه د سراسری کنګری څخه وروسته را بلل کیږی تر څو د کنګری د فیصلو او لارښوونو سره سم:

الف: په سیمه او اړوند ځایونو کی د ګوندی فعالیتونو د رهبری کولو په لاره کی مهمی لارښونی وټاکی او تصویب یی کړی.

ب: د داخلی سیمه ایزه نشریه به اړه ضروری پریکړی وکړی.

ج: سیمه ایزه کمیټه وټاکی.

د: د سیمه ایزه عمومی غونډی پریکړی او لارښوونی و مرکزی کمیټی ته د هغی غونډي د ګزارشاتو د وړاندی کولو او د مرکزی کمیټی د تائید څخه وروسته رسمیت پیدا کوی.

هـ: نوری سیمه ایزی عمومی غونډي د ګوند د مرکزی کمیټی د هر پولینوم څخه وروسته جوړیږی او کولای سی چه د ګوند د مرکزی کمیټی د پولینومونو د پریکړو سره سم، د نورو مقتضی تصمیمونو په لړکی، د ضرورت له مخی د سیمه ایزی کمیټی د له سره ټاکلو په برخه کی اقدام وکړی.

**نولسمه ماده:** سیمه ایزه کمیټه د دوه سیمه ایزو عمومی غونډو په منځ کی، په سیمه کی د ګوند د فعالیتونو، له هغی جملی نه د سیمه ایزی داخلی نشریه خپرول، د ګوند د مرکزی کمیټی تر رهبری لاندی، لارښوونه کوی او مسئولیت لری چه د خپلو فعالیتونو ګزارشات په منظمه توګه مرکزی کمیټی ته وړاندی کړی اود دی ګزارشاتو پربنسټ د مرکزی کمیټی له خوا صادر شوی لارښوونی په کار واچوی.

د سیمه ایزی کمیټی منشی د سیمه ایزی کمیټی لخوا ټاکل کیږی.

## بنسټیز تشکیلاتی واحدونه:

**شلمه ماده:** د ګوند بنسټیز تشکیلاتی واحدونه، د ګوند د مبارزاتی ضرورتونو او د تشکیلاتی کار د غوښتنو له مخی، په مختلفو ځایونو کی تشکیلیږي.
هر بنسټیز تشکیلاتی واحد، یو شمیر ګوندی هستی په بر کی نیسی.
**یوویشتمه ماده:** د بنسټیز واحد لومړنی عمومی غونډه، د سراسری کنګری او اړوند سیمه ایزه عمومی غونډی ځخه وروسته رابلل کیږی. دا غونډه د کنګری او سیمه ایزی عمومی غونډی
د پریکړو او لارښوونو سره سم دنده لری چه:
الف: د بنسټیز واحد د ګوندي فعالیتونو د رهبری لپاره مهمی لارښوونی وټاکی او تصویب یی کړی.
ب: د بنسټیز واحد کمیټه وټاکی.
ج: د بنسټیز واحد د عمومی غونډی پریکړی او لارښوونی، سیمه ایزی کمیټی ته د ګزارشاتو د وړاندی کولو او د سیمه ایزی کمیټی د تصویب ځخه وروسته رسیمت پیدا کوی.
د: د ګوند د بنسټیز واحد نوری غونډی، د ګوند د هر سیمه ایزی واحد د عمومی غونډی ځخه وروسته دایریږی او دنده لری چه د ګوند د مرکزی کمیټی د پولینومونو او سیمه ایزو واحدونو د عمومی غونډو د فیصلو سره سم، لازمی پریکړی وکړی.
**دوه ویشتمه ماده:** د بنسټیز واحد کمیټه د بنسټیز واحد د دوو عمومی غونډو د واټن تر منځ، د مرکزی کمیټی او سیمه ایزی کمیټی تر رهبری لاندی، د ګوندي بنسټیز واحد د فعالیتونو رهبری په غاړه لری او مسولیت لری چه په منظمه توګه خپل ګزارشات سیمه ایزی کمیټی ته او له هغه لاری مرکزی کمیټی ته وړاندی کړی او د دی ګزارشاتو پربنسټ د مرکزی کمیټی او سیمه ایزی کمیټی صادر شوی لارښوونی عملی کړي.
د پایه ئي کمیټی منشی د اړونده کمیټی لخوا ټاکل کیږي.

## ګوندي هستی:

**درویشتمه ماده:** ګوندي هسته د ګوند د تر ټولو وړوکی تشکیلاتی واحد ځخه ګڼل کیږي چه حداقل دری غړي او وګوند ته د غړیتوب داوطلب په برکی نیسی چه په کلیو، کارخانو، کانونو، موسسی، دفترونو، ښوونی او روزنی موسسات، مغازي او د هیواد په داخل کی د بیلا بیلو ځایونو او د هیواد ځخه بهر کارګرانو او پناه وړونکو په منځ کی تشکیلیږي.
د هری ګوندي هستی غړی مسئولیت لری چه خپل ګزارشات په منظمه توګه د هستی غونډی ته وړاندی کړی او د هستی د غونډی لارښوونی او د ګوندي رهبری د لوړ پوړو سطوح لارښوونی په کار واچوي.
هر ګوندي هسته باید خپل منشی وټاکی. د هستی منشی، د هستی د رهبری مسئولیت، د هستی د غړو د ښوونی مسئولیت او بنسټیز کمیټی او بنسټیز واحد عمومی غونډی ته د هستی د فعالیتونو د ګزارش ورکولو مسئولیت په غاړه لری او د بنسټیز واحد په عمومی غونډه کی د هستی استاذیتوب کوی.

**څلورویشتمه ماده:** د گوند هواداران باید په اړوندو ځایونوکی د گوندی هستی د غړو تر نظر لاندی فعالیت وکړی.

## ۳: مرکزی نشراتی ارگان، مرکزی داخلی نشریه او نور نشریګان:

**پنځه ویشتمه ماده:** د "شعله جاوید" جریده د افغانستان د کمونیست (مائوړیست) گوند مرکزی نشراتی ارگان دی چی په عمده ډول د خلکو د جگړی- چی د هغه اوسنی مشخص ډول د خلکو د ملی ولسی او انقلابی مقاومت جگړه ده ـ د تدارکو، پارولو او پرمخ وړلوپه چوپړ کی دی. مرکزی کمیټه د "کمونیست" داخلی نشریه په گوند کی د ننه د ایدیولوژیک- سیاسی بحثونو لپاره، د دوه خطونو تر منځ د مبارزی د پرمخ بیولو او د گوند د غړو سیاسی ـ ایدیولوژیک پیاوړی کولو او تکامل لپاره خپروی.
مرکزی کمیته د ضرورت په صورت کی کولای شی چی د یو نور نشریه یا نورو نشریگانو او همدا رنگه د جزوو او رسالو خپرول ترلاس لاندی ونیسی.
ټولی خپرونی باید د تبلیغ او ترویج او د کوند ایدیولوژیک- سیاسی خط د پرمخ وړلو او په ځانگړی توگه د گوند د اساسنامی د خط لپاره کار وکړي.

## ۴-- بیرغ:

**شپږویشتمه ماده:** د افغانستان د کمونیست (مائوئیست) گوند بیرغ، سور رنګ لری چی د پلنوالی او اوږدوالی تناسب یی دوه په دری کی دی او یو د سرو زرو رنګ ستوری د بیرغ د یو په څلورمه برخی په لوړ کین اړخ کی قرار لری.

## ۵: غړیتوب:

د افغانستان د کمونیست (مائویست) گوندغړي باید کمونیزم ته د رسیدلو لپاره خپل ژوند وقف کړی، ثابت قدم وی او د قربانی څخه ونه ډاریږی او د هری ستونزی په وړاندي د بریالیتوب د لاس ته راوړلو لپاره په کلکه سره مبارزه وکړی.
**اوویشتمه ماده:** هر کارگر، بی ځمکی کروندگر، بی وزلی کروندگر یا هر بل انقلابی عنصر چه د گوند اساسنامه و منی، د گوند په یو سازمان پوری تړاو پیداکړی او په فعال ډول کار وکړی، د گوند پریکړي عملی کړی، گوندي دسپلین په نظر کی ونیسی، په گوندي غونډو کی په منظمه توگه گډون وکړی او په منظمه توگه حق العضویت ورکړی، کولای شی چی د افغانستان د کمونیست (مائویست) گوند غړیتوب تر لاسه کړی.
گوند د خواری طبقو د ښځینه وو او نارینه وو له منځ څخه په غړی اخیستلو باندی په ځانگړی توگه تینګار کوی.
**اته ویشتمه ماده:** په گوند کی د غړیتوب داوطلبان باید شخصاً د غړیتوب د منلو پراوونه تیر کړی. د غړیتوب داوطلب باید د گوند د دوو غړو له خوا معرفی سی. اړونده

ګوندی سازمان کولای سی چه دا غوښتنه د سیمه ایزی کمیتی د تصویب په صورت کی ومني او د غړیتوب د غوښتنی داوطلب فرد د ګوند د غړیتوب د داوطلب په توګه ومني او هغه د فعالیت لپاره یوه ګوندی حلقی(کړۍ) ته لارښونه وکړی او ور و پیژنی.

**نهه ویشتمه ماده:** د غړیتوب د داوطلبی موده په عمومی ډول شپږ میاشتی ده. هغو کسانو ته چه طبقاتی منشاءیي پرته له کارګري، بی ځمکی کروندګر یا خوار کروندګري طبقو څخه وي، دا دوره باید تر هغه بریده پوری چه د سیمه ایزی کمیټی له خوا ټاکل کیږي، وغزول سی. په دی دوره کی د غړیتوپ داوطلب باید د ځانګړی مسئولیتونو د ترسره کولو لپاره وګمارل سی او تر ډول ډول آزموینو- د ضرورت او امکان په صورت کی تر نظامی آزموینو- لاندی ونیول شی. کله چه دا دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسیده، د غړیتوب داوطلب کولای سی چه د اړوند ګوندی بنسټیز واحد له خوا او د سیمه ایزی کمیټی په موافقی سره د ګوند بشپړ غړیتوپ تر لاسه کړی.

د غړیتوب داوطلبان د ګوند د اصلی غړو په څیر حقوق او دندی لری، ولی په رهبری هیئتونو کی د ټاکل کیدلو، ټاکلو او رای ورکولو حق نه لری او د غړیتوب د داوطلب د ضمانت کولو د حق څخه بی برخی دی.

په استثمارګرو طبقو (فیوډالان او بورژواګان) پوری متعلق کسان نسی کولای چی د ګوند غړیتوب تر لاسه کړی.

دا کسان هغه وخت کولای سی چی د ګوند غړیتوب تر لاسه کړی چه:

لمړۍ: د خپل طبقاتی موقعیت څخه په بشپړ ډول سره اړیکی وشلوی.

دوهم: خپله ټوله شتمنی ګوند ته وسپاری.

یوازی د دوی د مبارزاتی کارونو او فعالیتونو د پرمختګ د ځیر کتنی نه وروسته او د مرکزی کمیټی په موافقی سره، دا ډول کسان کولای سی چی د ګوند غړیتوب ترلاسه کړي.

**دیرشمه ماده:** د ګوند غړي د ټول وخت او نیمائی وخت د غړو څخه عبارت دی.

د ګوند د ټول وخت غړي د حق العضویت په ورکولو مکلف نه دی، حال دا چی د ګوند ټول نیمائی وخت غړي باید د خپل میاشتنی عوایدو څخه حد اقل لس سلنه د ګوند د حق العضویت په توګه په منظم ډول تادیه کړي. سربیره پردی هغه ملګری چه نسبتا لوړ عوایدی لری، هڅول کیږي چی د ګوند د حق العضویت د ورکولو سربیره، د ګوند سره نوری مالی مرستی هم وکړي.

**یودیرشمه ماده:** د ګوند هر غړۍ باید دي ته چمتو وی چه د ده نه د ګوند د بلني په صورت کی هغه یو انقلابی حرفه یي غړی سي.

**دوه دیرشمه ماده:** د افغانستان د کمونیست (مائویست) ګوند غړي باید:

**الف:** په جدی توګه مطالعه وکړی، مارکسیزم- لنینیزم- مائویزم په کار واچوی او د هغه نه دفاع وکړی، ټل خپله کمونیستی پوهه لوړه بوځي او د انقلاب د لوړو ژورو د لاري په وړاندی پیاوړۍ او کلک اوسی.

**ب:** د رویزیونیزم، دګماتیزم، امپریزم، اپورتونیزم، شوونیزم او د ملی او طبقاتی تسلیم طلبی د بیلا بیلو ډولونو په وړاندی مبارزه وکړی.

ج: په زړورتیا او ټینګوالی سره د هیواد او نړی د زیار ایستونکو خدمت وکړی، په نه ستړی کیدونکی توګه د انقلاب د مرام پر شاوخوا د هغوی د متشکل کولو لپاره کار وکړی او تل د خلکو د مبارزو په مخکی له مخه لیکو کی ولاړ وي.
د: خپل نظریات په روښانه توګه مطرح کړی او په ځان د نیوکی او په نورو د نیوکی شیوه د ځان او خپلو ملګرو او ټوله ګوند د انقلابی کیفیت د ودې او ټینګوالی په خاطر، په زړور تیا سره په کار واچوي.
هـ: د ګوند د خط تیوریک او عملی خلاق کیفیت ته د خپلو پوهی د کچی د همیشنی لوړولو او سیاسی نوښتونو له لاری وده ورکړي او په آګاهانه توګه د مکانیکی او بی شور او لیوالتیا د کار د سبک په وړاندي چی پخپله خپله د ګوند غړي فاسدوی، مبارزه وګړی.
و: خپلی شخصی ګټی د انقلاب د مقتضیاتو د امر تابع کړی.
ز: د ګوند اسرار تر هر ډول شرایطو لاندی وساتی.
ح: د ګوند د اسنادو او مالونو په خوندی کولو کی تل کوښښ وکړی.
ط: په دی وتوانیږی چه د خپلو اکثریت ملګرو سره حتی په داسی وخت کی چی هغوی د دوی په وړاندی په غلطه مخالف دریځونه ولری یو ځای شی، ولی په خالصانه او صادقانه توګه د هغوی د تیروتنو د اصلاح کولو په هڅه کی وي. مګرلازمه ده چی د کرریستانو، دسیسه جوړونکو او دوه مخو په وړاندي ځانګړی هوښیاری ولری تر څو په ګوند کی د دغسی بدکاره عناصرو د نفوذ او د دوی له خوا د ګوند په بیلابیلو سطحو کی د رهبری د غصبولو مخنیوی وګړی.
ی: د ګوند د دستور په صورت کی دي ته چمتو وی چی په وسله والو مبارزو او نظامی فعالیتونوکی چه د ګوند لخوا تر لاس لاندی نیول کیږی، ګډون وکړی. هغوی باید له هر لحاظه د خلکو د جګړی د تدارکو او پرمخ بیولو او د هغه اوسنی ځانګړی ډول یعنی د خلکو د ملی ولسی او انقلابی مقاومت جګړی کی بیلګه وي او د مقاومت په لومړیو کرښو کی ولاړ وي.
ک: د دښمنانو په وړاندی د ګوند د رهبری د حیثیت څخه په ټینګه دفاع وکړي او د ګوند د بیرغ د درناوی ساتنه وکړي.
ل: د تشکیلاتی لارو څخه خپل ګزارشات په منظمه توګه ګوند ته وړاندی کړی.

**دری دیرشمه ماده:** د ګوند ټول غړي او د غړیتوب داوطلبان د لاندنی حقوقو څخه برخمن دي :

الف: د هغه ټول موضوعګانو په اړوند مذاکراتو او بحثونو کی ګډون چی په اړوند ګوندی واحد غونډه کی مطرح کیږی، د اړوند ګوندی واحد په غونډه کی خپل نظریات په روښانه توګه بیانول او خپل وړاندیزونه، نیوکی او طرحی د هری موضوع په هکله وړاندی کول.
ب: په هره مذاکره کی چه د دوی د کړنو او حرکاتو د څرنګوالی په اړه پریکړه صادروی ګډون، پرته له هغه حالاتو څخه چه د ځینی دلایلو له کبله د هغو په هکله شک مطرح وی.
ج: د هغو انضباطی اقداماتو په وړاندی چی د دوی په مقابل کی نیول کیږي، لوړپوړی رهبری هیئت ته، د مرکزی کمیټی تر کچی پوری، خپل اعتراض اعلامول.

**څلوردیرشمه ماده:** د دښمن عوامل، نه اصلاح کیدونکی مرتدین، منحط عناصر، د

سست او کمزوری اخلاقو او روحیاتو خاوند وګړی، په مطلق ډول نه اصلاح کیدونکی کسان او پردي طبقاتی عوامل باید اجازه ونلری چه ګوند ته داخل سي. که چیری دغه ډول عناصر ګوند ته نفوذ کړی و ی باید د ګوند څخه تصفیه سی.

## ۶: تشویقی او انضباطی اقدامات:

**پنځه دیرشمه ماده:** د ګوند د غړو نمونه واره سرښندونکې او نوښت سره مبارزاتی فعالیتونه، د ګوند د مرکزی کمیټی لخوا تشویق، درناوی او ستایل کیږ ی.

**شپږدیرشمه ماده:** که چیری د ګوند غړي اساس نامه نقض کړی یا د ګوند ګټی په خطر کی واچوی او یا خپلی دندی سرته و نه رسوی او د هغو په هکله ایدیولوژیک – سیاسی مبارزی نتیجه ورنکړی، لاندینی انضباطی ګړنی د هغو په وړاندی تر سره کیږی: اخطار، جدی اخطار، د ګوندی مسئولیت تنزیل، تعلیق او د ګوند څخه شړل.

**اوه دیرشمه ماده:** که چیری د ګوند غړي دری ځلی په پرله پسی توګه د ګوند میاشتنی حق العضویت ورنکړی یا دری ځله په پرله پسی ډول او د کوم معقول دلیل پرته په ګوندی غونډه کی ګډون ونکړی، نو انضباطی کړنی پری عملی کیږی.

**اته دیرشمه ماده:** د بنسټیز تشکیلات غړی ته اخطار، جدی اخطار، او د ګوندی مسئولیت تنزیل د اړوند بنسټیز کمیټی د صلاحیتونو څخه دي.

**نه دیرشمه ماده:** د سیمه ایزی تشکیلاتو د بدنی غړی د غړیتوب تعلیق او د ګوند څخه د شړلو تر حده انضباطی کړنی د اړوند سیمه ایزی کمیټی د صلاحیتونو څخه دی.
د ګوند څخه د سیمه ایزی کمیټی د غړی شړل باید د ګوند د مرکزی کمیټی د سیاسی دفتر لخوا تصویب سی.

**څلویښتمه ماده:** د ګوند څخه په ډله ایزه توګه د افراد و د شړلو، وروستنی پریکړه د مرکزی کمیټی د پولینوم په غاړه ده.

**یوڅلویښتمه ماده:** د مرکزی کمیټی او د مرکزی کمیټی د علی البدل غړو د حزبی مسئولیت د تنزیل یا د مرکزی کمیټی ئي د غړیتوب معطل کیدل د سیاسی دفتر د صلاحیتونو څخه ګڼل ګیږی. د مرکزی کمیټی څخه د مرکزی کمیټه او د مرکزی کمیټی د علی البدل غړو شړل د مرکزی کمیټی د پولینوم د صلاحیتونو څخه ګڼل ګیږ ی.

**دوه څلویښتمه ماده:** په ګوند کی د مرکزی کمیټی د غړی او د مرکزی کمیټی د علی البدل غړی د تعلیق او د ګوند څخه شړل د مرکزی کمیټی د پولینوم د صلاحیتونو څخه دی.

**دری څلویښتمه ماده:** د ګوند دغړی د تعلیق موده باید د یوکال څخه ډیره نه و ی. په دغه دوره کی د تعلیقی غړی د کړو وړو پر بنسټ، هغه یا په ګوند کی خپل موقعیت بیرته تر لاسه کوی او یا د ګوند څخه شړل کیږی. د تعلیق په موده کی یوه ځانګړی کمیټه، نوموړیَ د ځانګړو مسئولیتونو د سرته رسولو لپاره ګماری، او هغه ته په مبارزاتی فعالیتونو کی د ګډون او د ځان د اصلاح لپاره فرصت ورکوی.

**څلورڅلویښتمه ماده:** هغه غړی چه خپله انقلابی روحیه ئي له لاسه ورکړی وی اود

ده د بیا روزنی لپاره د گوند د هڅو سره سره، لا هم خپله بی روحیه گی وساتی، باید د گوند څخه و وتلوته وهڅول سی.

**پنځه څلویشتمه ماده:** کله چه د گوند غړی د گوند څخه استعفاء ورکوی، د اړونده گوندی واحد د رهبری هیئت کولای سی د نو موړی استعفاء ومنی او مکلفه دی چی د کوند پورتنی رهبری هیئت ته فوراً د هغه گزارش وړاندی کړي. استعفاء ورکوونکی کس مکلف دی چی:

الف: د گوند ټول اسناد او مالونه او خپل گوندی اړیکی اړونده گوندی واحد ته وسپاری.

ب: ژمنه وکړی چه د گوند اسرار به نه افشاء کوی.

**شپږ څلویشتمه ماده:** مرکزی کمیټه باید د گوند د غړو په وړاندی د اتخاذ شوی انضباطی مقرراتو د شکایتونو د څیړلو لپاره یو مرکزی کمیسون وټاکی.

**اوه څلویشتمه ماده:** د تثبیت شوی خاینانو او جاسوسانو په هکله، د گوند څخه د شړلو پرته لوړ اقدامات هم کیدای شی چی تر لاس لاندی ونیول شی.

***********

*******

***

*

د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند ویب پاڼه
www.sholajawid.org

د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند الکترونیکی پته
Sholajawid2@hotemail.com

د افغانستان کمونیست (مائوئیست) ګوند انتشارات